هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

درژيم دمليشه وو ٦٠ كورنى مجاهدينو ته تسليم شوى

جوزجان ، ميډيا :
دجوزجان له ولايت نه ميډيا رپوټ وركړى چى مجاهدينو دشبرغان مركز په جنوب كى دسرپل ولسوالى دقلعه سوخته په مليشه قواو باندى يو راكړى بريالى حمله وكړه چى داوږدى جگړى وروسته دكمونست رژيم درى تنه مليشه وژل شوى ٢٧ ټپيان اويو شمير سنگرونه يى ويجاړ شوى دى .
پيغام زياتوى دمجاهدينو دذكر شوى بريد څخه په استفادى دسرپل دقلعه سوخته كلى شاوخوا دمليشه وو ٦٠ كورنيو چى يكى دپنځه سوو په شاوخوا كوچنيان ، ښځى اوسړى شامل وو مجاهدينو ته پناه وروړى .
درپوټ مطابق نوموړو كورنيو يو ميل زيگويك ، ٦٠ ميله كلاشينكوفونه او څلور پيكا ماشيندارى اونورو رنگارنگ نظامى مهمات له خپل ځان سره مجاهدينو ته راوړى .

دكابل راډيو دلنډوڅپو دستگاه ديوى چاودنى په اثر زيانمنه او خپرونى يى معطل شوى

كابل ، دقوس ١١مه :
دقوماندانانو شورا دسياسى دفتر رپوټ وركړى دهغى چاودنى په اثر چى ددوشنبى په ورځ دقوس په ١١ مه دكابل دپل چرخى په سيمه كى دزغروالو قواوو د٥٢٣ مى نظامى قطعى كى تر سره شوه درژيم دوسلو يوه ډيپو وچاوېده او دكابل راډيو دلنډو څپو دخپرونو يوه دستگاه چى دډيپو تر څنگ و، زيانمنه شوه اوپه نشراتو كى يى خلل راپيښ شو .
راپور زياتوى ددى چاودنى په اثر چى دمجاهدينو دارتباطى كسانو په وسيله تر سره شوى درژيم ٤ عرادى زغره وال نقليه وسايط ويجاړ او ٣ تنه نظامى افراد پكى مړه شوى دى .

دوهم كال ١٣مه (پرله پسي ٦٥) گڼه چهارشنبه د ١٣٧٠ هـ ش دقوس ٢٠مه د١٤١٢ هـ ق دجمادي الثاني ٥مه د١٩٩١ م كال ددسمبر ١١ مه نيټه

الحاج مولانا جلال الدين حقانى له مجاهد غږ راډيو سره په مركه كى :

مشروع حكومت هغه دى چى خداى (ج) اودهغه رسول (ص) يى چوكاټ اوقانون راته ښودلى دى

محمودوف عضوپارلمان اذربائيجان دريك كنفرانس مطبوعاتى :

آذربائيجان كشور آزاد است ودركنفدراسيون مسكو شركت نخواهد كرد

(درصفحه ٧)

دجنوبى افريقا په كابينه كى به توريوستى هم گډون كوى

جنوبى افريقا :
دجنوبى افريقا جمهور رئيس دسپين پوستو خلكو څخه جوړه شوى كابينى سره په خبرو اترو كى ويلى دى چى كيداى شى په نژدى راتلونكى كى دسپين پوستو څخه پرته ځينى نور كسانو ته هم په حكومتى چارو كى گډون وركړي .
جمهور رئيس ويلى دى چى دحكومت ددى نوى پلان له تطبيق سره به دجنوبى افريقا اقتصادى او سياسى حالات ډير اوچت شى .

به سلسله فرار از اعضاى حزب مزدور وطن ازكابل :

«رهنورد زرياب» وظاهر «طنين» به دهلى فرار كردند

درصفحه ٨

په بنگله ديش كى دحكومت دمخالف گوند په غوښتنه اعتصاب

داړودوړاو خونړيو نښتو په ترڅ كى ٥٥ تنه ټپيان

په ٨ مخ كي

دشوروى دپوځ عمومى قوماندان له دندى څخه گوښه كړاى شو

په پوځ كى دمسلمانو عناصرو دبغاوت انديښنه

په ٨ مخ كي

افغاني مهاجرينو ته دازبكستان دپارلمان دغړى محمودوف وينا :

افغانانو دټول عالم اسلام لپاره قربانى وركړى

دخداى په فضل په منځنى آسيا كى دكمونيزم قوت ختم شو

په ٨ مخ كي

روزانه ٣٠٠ تن از اتباع انگلستان به اثر تمباكو نوشى جان مى دهند

لندن ، ١٥ عقرب :
يك سازمان دولتى صحت در انگلستان اعلان نموده است كه روزانه بيش از ٣٠٠ تن به اثر امراض پيدا شده در نتيجه تمباكونوشى در آن كشور جان مى دهند ، وبه خاطر جلو گيرى از اين امراض مؤسسه صحت انگلستان ٤٥٧ ميليون پوند مصرف مى نمايد .
در راپور مذكور گفته شده است كه بيشترين رقم تلف شده گان از اين ناحيه مربوط منطقه مانچستر مى باشد .
راپور همچنان مى افزايد كه سالانه ١٤ ميليون تن از باشندگان انگلستان تمباكواستعمال مى نمايند و ١١١ هزار تن از آنها به امراض ناشى از استعمال تنباكو دچار مى گردند كه امراض عارضه قلبى سرطان شش وعده ديگر شامل آن اند .

عموميت استفاده از مواد مخدره در كابل

نقش فعال مقامات دولتى رژيم در اين امر

(درصفحه ٨)

كميته صحى پكتيا و پكتيكا اهداف وفعاليت ها

صفحه ٥

دواشنگتن پوسټ اخبار رپوټ :

لويديزه نړى دمنځنى آسيا له هيوادو سره دميرنى زامنو په څير چلند كوى

په ٨ مخ كي

اخطارشهزاده سهانوك رئيس شوراى ملى كمبوديابه امريكا

بنگاك ، ١٥ قوس :
رئيس شوراى عالى ملى كمبودياشهزاده سهانوك به امريكا اخطار داده است تاازمداخله درامور داخلى كمبوديا خود دارى نموده و تلاش نكند تاانتخابات منعقده سال ١٩٩٣ در كمبوديارامتاثر سازد .
شهزاده سهانوك اين گفته رابعد از بيان مشترك ٣٠ تن اعضاى پارلمان داده است كه در آن ازرئيس جمهور امريكا جارج بش تقاضا گرديده بود تا زمينه رابراى اقتدار دوباره كيمبروج در كمبوديا مساعد سازد .
سهانوك گفت اين امر منحصر به تقاضاى مردم است كه كيمبرج دوباره برسر اقتدار امده مى تواند ياخير .

سرمقاله

رواني خبرې هيلې اواميدونه

زموږ مجاهد ملت دكمونيزم، الحاد اوفساد پر ضد دوسله وال جهاد دڅه دپاسه ديارلسو كلونو په اوږدو كى دپاڅون اومقاومت په سياسى اوپوځى ډگر كي دڅو گونو لنډ مهالو- اوږد مهالو اتحادونو ، ائتلافونو، اوعبورې حكومتونو دجوړيدواو بيرته ړنگيدو صحنې دسرپه سترگو وليدلى .
داچى ددغو اتحادونو، ائتلافونو اوعبورى حكومتونو په رامنځته كولو اوبيا له منځه وړلو كى چا څومره اوڅنگه رول درلود اوددغو اتحادونو اوبيا اختلافونو له امله زموږ دجهاد په سياسى اوپوځى ډگر څه وراغيزى پريوتى ، دهغو په عواملو، نتايجو ، دگټواوزيانونو په پس منظر خبرې كول ځانگړى بحث دى چى دلته يى تفصيل ته اړتيا نه ليدل كيږي .
دمجاهدينو عبورى حكومت چى كابو درى كاله وړاندى له افغانستان نه دروسى قواو په تيښته وتلو څخه څو ورځى وروسته په اسلام آباد كى ديوې مشورتي شورا له خوا ،چى غړى يى په پيښور كى دميشتو اوو جهادى تنظيمونو دبرابرى ونډى اوديو شمير نورو جهادى ځواكونو څوځو غړيو په برخه والى سره ټاكل

په ٧ مخ

دگرديز دوروستيو شهيدانو په ياد په ميرامشاه كي درنه غونډه

دالحاج حقاني اويو شمير نورو مجاهدو او انصارو علماوو وينا

په ٧ مخ

يوازى په يوه كال كي په ايډز اته سوه ميليونه ډالره مصرف

په راتلونكى كلونو كى ددى مصارفو دڅنده زياتوالى انديښنه

په ٨ مخ كي

كه په ملگرو ملتونو كي معقوليت واي ، نوبايد چي نجيب يي دافغانستان دجنگ اوبربادي مجرم بللي واي اوله ملگرو ملتونو نه يي دهغه نماينده شړلي واي

الحاج حقاني

جهادهنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

گامهای تند بسوی تجزیه کامل اتحاد شوروی

سمیع الله تازه

حفظ اتحاد نامتجانس جمهوری های شوروی بیشتر هنگامی تحت سوال جدی قرار گرفت که هشتاد درصد ازسی و دو میلیون مردم جمهوری اوکراین شوروی بطرفداری آزادی جمهوری شان از اتحاد شوروی رای دادند .

بعد از اخذ رأی کراوچوك که ازکمونستان سابق وریفورمست های حاضر است زمام امور رابدست گرفته وبه همکاری پارلمان قانون اساسی سال ۱۹۲۲ شوروی را رسمًا در جمهوری اوکراین ملغی قرار داد .

جمهوری اوکراین یکی از مقتدرترین جمهوری های روسیه است که از نگاه انکشاف صنعتی وذخایر سلاح های اتومی از اهمیت ویژه در اتحاد شوروی برخوردار میباشد .

گورباچوف رئیس جمهور شوروی به رئیس جمهور اوکراین از عواقب وخیم تصمیمش اخطار داده ولی اوکراینی ها حاضرنیستند به اتحادیکه رئیس جمهور گورباچوف بخاطر حفظ اتحاد شوروی پیشنهاد نموده سهیم گردند .

بعد از تصمیم ازادی مردم اوکراین «یلتسین» رئیس جمهور روسیه سفیدو کشورهای پولند وورومانیاآنرابرسمیت شناخته اند ایالات متحده نیز گفته است که درآینده نزدیك جمهوری مستقل اوکراین رابرسمیت خواهد شناخت.

اماهمه مشکل به پایان نرسیده است مشکلات اتحاد شوروی ، سوال تحفظ سلاحهای اتومی وسوال چگونگی اتحاد شوروی بیشتر در ابهام قرار میگیرند.

روسیه سفید قبلا تهدید نموده بود درصورتیکه اوکراین از اتحاد جمهوریت های شوروی خارج گردد به دعوی اراضی از طرف آن جمهوری مواجه خواهد شد ولی درپیشنهادیکه یلتسین ضمن مخالفت با پیشنهاد گورباچوف مبنی بر اتحاد جمهوری ها ارایه داشت تقاضا نمود که میتواند اتحادجمهوری ها بشکل اتحادیه کشورهای مشترك المنافع یا کامنولت بوجود آید این پیشنهاد یلتسین هنگامی بیشتر قوت یافت که جمهوری های نیرومند روسیه فدراتیف اوکراین وقزاقستان که هم ازنگاه انکشاف اقتصادی وهم ازنگاه نفوس وذخایر سلاح اتومی قابل بحث وحساب اند درنشست اخیر خویش تصمیم گرفتند تا اتحادیه بشکل اتحاد کشورهای مشترك المنافع رابوجود آورند این تصمیم نشان میدهد که در انکشافات بعدی رول گورباچوف هرچه بیشتر تضعیف خواهد گشت .

سوال عمده اینست که شکل اتحاد جماهیر شوروی سابق دراینده چگونه خواهد بود؟چنانچه جیمزبیکر وزیرخارجه امریکا گفته است «ان اتحاد جماهیر شوروی که قبلا می شناختیم دیگروجود ندارد» این امر مسلم است که دیگر باره وبروج ان امپراطوری خونبار فروریخته است ولی تشویش امریکا وسایر کشورها دراینست که ممکن است پارچه شدن اتحاد شوروی عواقب وخیم به خود جمهوری هاوکشورهای جهان داشته باشد .

خطر این امر به جمهوری های شوروی اینست که قبلاً درتعین حدودات آنها مشخصات دینی ،لسانی ، کلتوری وتاریخی که جزوات اساسی یك ملیت بحساب می آیند هیچگاه درنظر گرفته نشده است بلکه حکمروایان کمونستی روی ملحوظات عندی وسیاسی خویش چوکات اداری وارضی جمهوری ها را تعین نموده اند وازهمین سبب است که در تعداد بیشتر جمهوری های روسیه بعد از سقوط حکومت مرکزی واعلام آزادی برخوردهای قومی ومنطقوی وحتی مذهبی صورت گرفته است .

گورباچوف نیز بر تصمیم گیری سه جمهوری بزرگ اتحاد شوروی بخاطر اتحاد میان خود شان انتقاد نموده آنرا گامی در جهت درگیری یك جنگ داخلی بمانند یوگوسلاویا خوانده است .

بقیه درصفحه ۷

مشروع حکومت هغه دی چی خدای (ج) اودهغه رسول (ص) یی چوکاټ اوقانون راته ښودلی دی

گرانو لوستونکو !

دتیری پنجشنبی په ورځ دقوس په څوارلسمه نیټه دمجاهد غږ راډیو خبریال دجنوبی محاذونو له اتل قوماندان الحاج مولانا جلال الدین حقانی سره دجهاد او نړۍ دسیاسی تاوجنو وروستیو حالاتو په اړه یوه مرکه کړی چی موږ یی دجهاد هنداری لوستونکو ته وړاندی کوو،

(اداره)

پوښتنه:
محترم حقانی صاحب که دګردیز دعملیاتو په هکله یو څه معلومات راکړی ډیره مهربانی به مو وی ؟

ځواب :
بسم الله الرحمن الرحیم
نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد !

دګردیز دعملیاتو دشروع نه مخکی موږ ښو واره تیاری ونیوه اما نورو ملګرو پدی باندی ټینګار کاوه چی نوی سلاح ګانی چی راځی هغه لانه دی رارسیدلی دهغی دتهیی په خاطرڅه وخت ضایع شو عملیات په تأخیر سره شروع شول،نو دهغی په سبب باندی دموسم مشکلات اوس فلحال موجود دی. مجاهدین دیخنی ، واوری او داسی نورو مشکلاتو سره مخامخ دی.باید ووایو چی دښمن ته هم دغه مشکلات شته دی ځکه ددوی لپاره ټولی لاری بندی دی یوه دلوګر او کابل په لار په ډیرو مشکلاتو تګ راتګ کولای شی ،دوی دژمی دموسم دیخنی نه دځان ژغورنی لپاره سکاره او لرګی نشی ترلاسه کولای اوپخوا چی به کابل ته دروس له طرفه کوم دډېرو سکاره راتلل یابه دوی ته تیل زیات راتلل ددوی مشکلات به پری حل کیدل سږکال هغه هم تقریباً پری قطع دی او نوری لاری دپکتیا دغرونو نه اویا دکلی نه دوی چی کوم لرګیو

> هغه قوتونه چي مزدور رژيم له هرات ، مزار ، جوزجان څخه ګرديز ته راوستي وو ، هرڅومره چي يي خپل زوروازمايه مجاهدين يي په شانکړاي شول

اوخاشاکواکمالات کول سږکال یی بلکل نشی کولای نو دوی دمحاصری په حالت کی شپی سبا کوی اوبیا ځنی داسی قوتونه یې اجوری او اجاری په شکل راوستلی و هغوی ته یی داسی وخت ورکړی ؤ چی په دومره وخت کی به تاسی کوم خطونه چی مجاهدینو مات کړیدی اوددفاع خط نه تیر شوی او ښار ته دومره نږدی دی چی ښار ددوی دهر ډول توپونو دګولیو تر اورلاندی دی دا مجاهدین له دغه ځایه شاته کړئ.دوی په دغوعملیاتو کی هغه قوتونه چی دهرات ، مزار ، جوزجان او یا دکندهار او هلمندنه راوړل شوی ؤ څومره یی چی خپل زور وازمایه مجاهدین یی په شانکړای شول مجاهدینو چی کوم ځایونه نیولی وو واپس ټی ونښتل دریم ملیشه قواوی چی دلته راغلی وې پدغه اوسینو وختو کی ددوی په خپلو منځو کی هم شدیداً اختلاف راغلی دی څارنذوی یا دګردیز مربوط حکومتی قواوی دانظر لری چی دکلی خلك مسلح وی هم به پخپلو کورونو کی پیره کوی اوهم به دمجاهدینو دمقابلی لپاره راوځی بل داچی هغوی به خپل کورونه او مالونه دګلم جم دلوټماریو نه ساتی اوهغه ګلم جم او ګارد خاص چی دی هغوی وایی چی څرنګه چی داخلك دمنطقی نه مستقله دفاع نشی کولای دوی ددفاع نه عاجز دی موږ یی دلته په بلا ګرفتاره کړی یو نو دوی ته باید بلکل وسله ورنکړای شی دوی دی بلکل خلع سلاح وی موږبه ددوی دسلاح څخه استفاده کوو نو پدغسی مواردو کی ددوی تر منځ اختلافات زیات شوی دی،جنګونه دوه دری ځلی ددوی په منځ کی وشول.اوسنی عملیات تقریبًا چی زه تری راغلی یم دری ورځی وتلی دی دوی ځو تعرضونه پر مجاهدینو باندی اجرا کړل چی په هغی دټانکونو اودپیاده تعرض هم و توپونه یی هم استعمالول ، بمبارد یی ډیر زیات کاوه چی پدغو عملیاتو کی داتلسو په شاوخوا کی ټانکونه ددوی وسوځول شول اوډیرؤ زیاتې ډیپوګانی په داخل دښار اوپه ماحول دښار کی دمجاهدینو دتوپونو دګولیو په ذریعه سوځول شوی دوی چی کوم پروګرام جوړ کړی و هغه بلکل شنډ شو اواوس دځو ورځو راپه دی خوا یی نور دتعرض قدرت او توان ندی پیدا کړی مجاهدین دڅه عملیاتو پروګرام لری څوکه واوره اویخنی دعملیاتو مانع نشی. داچی مجاهدین به خپل خطونه شاته کړی دافکرله مجاهدینو سره نشته خپل خط به ساتی اوچی موقع ورته برابره شی تعرض به هم کوی یاپه یوه خوا یابله خوا لږ مخکی یا وروسته ځو تعرض به کوی (انشاالله)

پوښتنه :
محترم حقانی صاحب په دی وروستیو وختونو کی دڅوری په جهادی مرکز کی دجهادی قوماندانانو یوه شورا جوړه شوه ددغه شورا دګټورو اهدافو په باره کی اودغه شوراته دجهادی قوماندانانو دضرورت ددرلودلو په هکله څه معلومات راکړئ مهربانی به مووی ؟

ځواب :
دادقوماندانانوسرتاسری شورا نه وه سرتاسری شورا اصلاً هغه ده چی دهیوادد ټولو اقشارو قوماندانان دټولو ولایاتو ټکړه او مشهور ، نامتو او قدرت مند قوماندانان په هغه کی عضویت ولری په دغه لړکی یوه شورا په ژوره کی په ابتدا کی وشوه دوهمه شورا بیا هم په ژوره کی دتیرکال دسرطان میاشتی په اول باندی وشوه اوبیا ژمنه شوی وه چی دوه میاشتی وروسته به دریمه شورا کیږی په دریمه شورا کی به رسمیت پیژندل دشورا کیږی ، عضویت به تعیین کیږی دافغانستان په سرنوشت به خبری کیږی دجهاد ددوامدارکولو لپاره په یوه عمومی استراتیژی طرحه ریزی کیږی خو هغه شورا بیادڅه موسمی اوڅه نورو مشکلاتو په اساس باندی تر هغو دوو میاشتو وروسته ونه شوه خو دمیزان په میاشتی کی په شاه سلیم کی دځو تنو مهمو قوماندانانو چی هغه اکثره دکمسیون غړی ؤ دشورای نظار مشر قوماندان احمد شاه مسعود سره هلته یوه شورا وشوه په هغه شورا کی ژمنه وشوه چی اوس موسم مناسب ندی په پسرلی یا په اوړی کی به دافغانستان دټولو اقشارو نه قوماندانان غوښتل کیږی اوددریمی شورا ژمنه به پوره کیږی اوبیا چی دکال سړمنی راغی جنګونه په افغانستان کی ډیر ګرم شول دخوست فتحه وشوه داسی نوری سیمی لکه زیباك ، کشم ، واخان ،

پاتی په (۵) مخ کی

قوم یهود درآئینه تاریخ

ترجمه : احمد سعادت

عجیب اتفاقی است زمانیکه درسال ۱۸۹۸ میلادی اجتماع بزرگ یهودها درهال سویزرلیند منعقد گردید رهبر آنها هرتزل پیش گویی کرده بود که پنجاه سال بعدسلطنت مستقل یهودی ها تاسیس خواهد گشت که واقعاً درسال ۱۹٤۸ یعنی پنجاه سال بعد از آن تاریخ کشوری مستقل یهودی تاسیس گردید خیلی ها قبل

یهودیان تمام اسرار سلطنت بابل رابه اقایان جدید خود فارسي ها، افشا ساختند

از آن درسال ۱۹۷۰ م قطیس پادشاه روم یورشلم رانیست ونابود کرده بود، در نتیجه آن از یورشلم یا فلسطین امروزی نام ونشان یهودی ها ختم شده ودر چهاراطراف جهان خوار وذلیل گشتند بعداز آن یهودها شروع به خدمت هرفاتح کردند وخود رادررنگ ولباس آنها همنواساخته وازحالت انفرادی خود رابدر اورده وبه آنها خویشتن را مدغم نمودند.

بدین ترتیب یهودها خدمت سلطنت های اشوری وبابل راانجام میدادند درسال های ٥۸٦ قبل از میلاد نصر پادشاه بنوخذ به دولت بهونا حمله کرد که درنتیجه یورشلم دارالخلافه اورا تصرف نموده ویورشلیم راهمراه با هیکل سلیمانی به آتش کشید دروقت عروج سلطنت فارس یهودی ها درخدمت اقایان جدید خود هیچ کودتاهی نکردند آنها به شاه بابل بادار قبلی خویش غداری نموده وتمام اسرار سلطنت بابل رابه اقایان جدید فارسی خود افشا نمودند دراین زمینه رول مهم رایك خوبروی یهودی بنام استبرکه پادشاه احشو عاشق وی گردیده بود بازی کرد، در تورات خود ساخته یهودها به این زن یهود استبر مقام عالی داه شده است وبدین لحاظ یهودی ها روزی مخصوص رابنام نوریم بخاطر زن مذکور عید میگرند.

واین همان روزی است که استبر کوشش کرد تا وزیر هامان را خدعه دهد هامان از یهودها سخت متنفر بود او استبر راهمراه با رفقایش گرفتار کرده زندانی نمود، قابل بتذکر است که در کشورهای مختلف جهان که کشورهای عربی هم شامل آن می باشد چندین هوتل بنام این زن یهود استبرتعیمر گردیده است.

بعد ازاحشو بروش پسروی قروش، بر تخت نشست او که در دامان استبر بزرك شده بود خواست تا یهودهای فلسطین رادوباره بر گرداند وهیکل سلیمانی راسر از نو تعمیر نمایند این عین همان اقدامی است که ترمین رئیس جمهور اسبق امریکا در قرن بیستم بخاطر تاسیس دولت اسرائیل بی نهایت کوشید وآنرا توسط کشورهای جهان به رسمیت شناخت وجای تعجب آن است که چندین تناژ روسای جمهوری امریکا بر نقش قدم شاه قورش رفتند که در آن جمله صدر کارتر، صدر ریگن، وصدر بش بالخصوص قابل ذکر اند.

با وجود ایکه قورش یهودی ها را اجازه داد تا به فلسطین باز گردند ولی بازهم نتوانستند هیکل سلیمانی رادوباره تعمیر نمایند بعد از قورش احشو بروش ثانی عنان قدرت رابدست گرفت، وبعد از آن هنگامیکه داریوش قدرت را تصرف نمود بر نقش قدم قورش رفته در دوران اقتدارش هیکل ثانی را تعمیر نمود با وجوداین همه مراعاتی که یونانی ها به یهودی ها دادند بالاخره یهودی ها همه این احسانات را در طاق نسیان گذاشته تمام راز های سلطنت یونان رابه آقایون فارسی شان گفتند.

در دوران جانشینان سکندر اعظم یهودی ها به حد کافی درکشورهای مصر، شام و فلسطین رسوخ داشتند بعد از آنکه فلسطین توسط رومی ها فتح شد یورشلم وهیکل سلیمانی رامنهدم نموده ریزه ریزه کردند و بار دوم یهودی ها مجبور به ترک فلسطین

باوجودیکه قورروش یهودي ها را اجازه داد تابه فلسطین بازگردند ولي بازهم نتوانستند هیکل سلیماني رادوباره تعمیر کنند

شدند.

در زمان خلیفه دوم اسلام حضرت عمر فاروق (رض) وقتیکه اسقف کبیر معاهده راامضانمود وکلید های القدس رابه حضرت عمر (رض) تسلیم کرد شرط مهم آن این بود که مسلمانها به یهودی ها اجازه دخول رادر بیت المقدس نخواهند داد ونه درآینده اجازه خواهند داد که قدم های پلید آنها القدس ویورشلم رامردار سازد.

دسایس یهودی ها در مقابل پیغمبر آخرالزمان محمد (ص) اکنون حصهٔ از تاریخ است یهودی ها چندین بار کوشیدند که آن حضور (ص) را به شهادت برسانند اما نتیجه این کوشش ها باعث شکست ذلت آمیز آنها شده وایشان از مدینه منوره تبعید گردیدند وهم در عزوه خیبر شکست فاحش خوردند با وجود آنکه در مقابل نبی کریم (ص) دلهایشان پرازکینه وعناد بود ومانند اتش شعله می زد بازهم

بقیه درصفحه ۷

«چاینا وایت» نوی او خالص هیروئین

انساني ژوندانه ته یو بل گواښ

ژباړه او لنډیز : احمد ضیا رحیمزی

په تیر پسی :

له تیر کال څخه په تایلینډ کی دبرما سرحد سره جوخت دمشهور هیروئین پلورونکی «کون سا» معروفه قلا دوحشی او شوقی قاتلانو دقبیلی وا څخه دمنحرفو باغی اوچریکی ډلو تر محاصری لاندی وه، دروان کال ۱۹۹۱ دمارچ په میاشت کی ددی باغی ډلواو د«وا» او«شان» قبیلو دافیونو دلښکرو تر منځ دمایکاك درود په غاړه په یوه ارام اوپرسکونه کلی کی خونړی جگړه ونښته چی تر جگړی وروسته یی دغه باغی ډلی له سیمی څخه وشړلی دجگړی په دوران کی دتوپ یوه مرمی په کلی کی ولگیده چی دسیمی له اوسیدونکو څخه دوه تنه مړه اولس تنه نور ټپیان شول، اودغه خبره دتایلنډ ددولتی پوځونو دراپاریدنی سبب شوه، دغه دولتی پوځیانو دواړو خواوته درنی ډزی وکړی اودهمدی دزو په اثر دشان اووا دواړه ډلی یی له سیمی څخه وتلو ته رایستلی.

دتایلنډ هوایی قواوو هم دکون سا دهیروئینو دمارکیټونو په سیمو هوایی بریدونه وکړل، او دا آوازه هم خپره وه چی دمیانمر حکومت هم دتایلنډله حکومت سره په گډه پدی فعالیتونو کی برخه واخیسته اوپه گډه یی کون سا تعقیب کړ.

ولی کون سا دپخوا په شان دولتی افرادو ته دډیر زیات رشوت په ورکولو سره خپل ځان یو ځل بیا وژغوره، دبرما او تایلنډ ددولتی مامورینو سره دکون سا اړیکو دمیانمر څخه تر تایلنډه دکون سا مربوط د هیروئینو دقاچاق په اړو هم ښه اثر وغورځاوه، دتایلنډ پوځونو په غیر پوځی سیمو کی چی په سرحد کی واقع دی نه یوازی دوا قبیلی ته پناه ورکړه، بلکه دکون سا ځانگړو لښکرو ته یی هم دوسلی، خوراك او مخدره موادو لپاره لاری چاری جوړی کړی.

ددی چریکی جگړی سره سره دطلایی رنگه مثلث ډوله سیمی څخه دهیروئینو قاچاق په منظمه توگه پر مخ بیول کیږی اوپه ټوله نړی کی خپریږی.

په همدی شپږو ورځو کی دچیانگ مای، په سیمه کی دچاینا وایت هیروئینو قیمت یوه کیلو په څلور زره ډالره شوی دی چی دغه هیروئین ۹٥ په سلو کی خالص دی.

درگ مافیا یا دمخدره موادو دقاچاقو پټ بین المللی سازمان دخپلو فعالیتونو سره سره پټ نړیوال بانکی سیستم هم لری، چی دهغی کشف او معلومول خورا گران کار دی.

ولی دومره معلومه ده چی دغه بانکی سیستم په آسیا یا لویدیزو هیوادو کی دجواهراتو دوکانونو تجارتی کمپنیو صرافانو او داسی نور لارو چارو په واسطه چلیږی.

په همدي شپږو ورځو کي د(چیانگ ماي) په سیمه کمي دچاینا وایت هیروئینو قیمت یوه کیلو په څلور زره ډالره شوي دي

ددرگ مافیا سازمان دټلیفون او تلکس دپټو پیغامونو دراډیو دپټو نشراتو، او مختلف ډول لیکل شویو کاغذونو په واسطه په آسیا شمالی امریکا او اروپا کی په خورا اسانی پیسی بدلوی.

پدی لړ کی داستعمال شوی کودیا شفر اودهغی دحل له کلی څخه داپه ډاگه کیږی چی پدی کار اوبار باندی دچینایئ نسل خلك حاکم دی.

ددرگ مافیا سره دنږدی اړیکو درلودونکی یوه پارچه کاغذ چاته وړاندی کړ چی دیوه چینی تاریخی ناول څخه اقتباس شوی دغه جمله پکی لیکلی وه« ددریو هیوادونو عشقی داستانونه » اوچی کله په چیانگ مای کی ددرك مافیا له یوه راز دار څخه دهغی معنی وپوښتل شوه هغه وویل چی ددی جملی معنی یومیلیون ډالره ده.

په تایلنډ کی اکثراً دهیروئینو دلیږلو لاری چاری نوی کیږی، چی وروسته بیا دبیلابیلو بندرونو له یوه جال څخه په تیریدو سره دغه هیروئین شمالی امریکا، اروپا او استرلیا ته دقاچاق په ډول رسیږی.

په لږ مقدار کی دغه مال دهوایی سفر دهغو هر کاره کانو په واسطه هم لیږل کیږی چی دمافیا په اصطلاح ورته کچر وایئ اوپه هغی کی اکثراً داسی خلك شامل دی، چی دمافیادظلم او تشدد له ویری دی کار ته را ایستل کیږی.

دهانگ کانگ ځینی اوسیدونکی هم دترڅمکه لاندی قاچاقی ډلگیو په لاس کی راکښیل کیږی اوپه قمار وهنه لاس پوری کوی، تر لږ مودی وروسته دټول څه په بایلولو سره دقرضونو ادا کولو لپاره له ځان څخه کچر جوړوی او دهیروئینو په

په ٦ مخ کي

جهادي ادب

هرڅومره چې په کور کې خزانونه اړولي
په تمه او اسره دیوه بهاد باندې ورځم
دشپو ښامارمې لاره ده ډب کړې دمزلونو
خوبيرته نه ستنيږم په ښامار باندې ورځم

احساس

دااحساس دآزادۍ دی چې ولس راپاریدلی
داکوم نوی دستور ندی چې افغان دی پاڅیدلی
که تاریخ ته نظر وکړې اولړ غوندې ورته ځیر شئ
دغه لارموډپلرو وه چې روس ناست دی ویرژړلی
چې غیرت ته موقانع و او زموږ نه یې زده کړه کړله
اوس دعوه زموږ دسرکړې دامجنون دی سرخوړلی
یاهغه پښتانه نه شته یازما فکر بدل شو
څه عجیبه شانې خیال مې په فکرونو چورلیدلی
دغه دواړه ځای په ځای دی هڅوب لړ غوندې بدل شو
چې یه ځنه بجــ لاړې شوې عام اولس دی پوهیدلی
ناروغي مو دنفاق ده لویه ربه را نه یې لر کړې
په ورانۍ کې یې ده ګټه دښمن موږ کې لاس وهلی
راځئ نور سره راټول شو په یو والي کې شته ګټې
که داګټې نه کړو خپلې دښمن ناست دی غاښ چیچلی

دعاصم ثمرخیلي لیکنه

زه همغه شهسوار یم

شفیقي

زه سپاهی دانقلاب یم
ړدم دوینو مشالونه
تروږمې پې رنومه
ځلومه سحرونه
دنورځلي درومه
جوړومه تاریخونه
***
زه !
یاغي له بغاوت یم
سرښندني ته تیاریم
دپرون پرتم تعبیریم
زهمغه شهسواریم
چې یې رنګي بتکدې کړې
دتوحید هغه شعاریم
***
زه ګلان کرم دوینو
داورونو په میدان کې
دژوندون ترانې وایم
دمرګونو په توپان کې
زه مثال دحریت یم
بیا په سراسر جهان کې
***
زه سپاهی دانقلاب یم
جوړومه تاریخونه
ړدم دوینو مشالونه
راولمه سحرونه
دتوحید هغه شعاریم
بتکدې به ماتومه
زه همغه شهسوار یم
زه ، همغه شهسوار یم

ننګيالي او خاطرې يې

چاویل چې له دې خړو جونګړو نه به دپخو ماڼیو نویجاړیدو زلزلې جوړیږي ! چاویل چې ددې خوارې ځپلیو کلیو نه به دوخت دستر پوځي لښکرماتي اونابودی اغازوي؟ چاویل ؟!!

چاویل چې په دې ختینو کورونو او جونګړو کې به دداسې ایمانونو خاوندان اوسیږي چې دنړۍ دقیامونو امامان به وي ؟

چاویل چې دلته به دغیرت اوهمت دومره دنګ دنګ ځلي دریږي چې له حیرته به ډیر ورته ګوتې په غاښ پاتې کیږي ؟

چاویل چې په دې لروبرو تر سترګو لویدلیو کنډوالو کې به دعصر معجزه ښکاریږي ؟! اوچا ویل چې نن هم اولس کلن محمد بن قاسم غوندې اتلان شته ، همدا نړۍ ، همدا لمر ، سپوږمۍ او اسمان به پرې شاهد وي دالوړ لوړ غرونه به یې دحماسو ګواهان وي او دالر اوبرګرنګونه به یې دتکبیر ملکوتي نعرې اوري ، هوکې ! له هیچا سره هم داتصور نه وه ، هیچاهم دانه ګڼله خلکو خو عظمت په لوړو ماڼیو کې لټاوه ، عزت او غیرت یې دپخو او ښکلیو بلډنګونو مال ګاڼه ، په دې شاړ غوندې خټین ماحول کې خوداسې ستري حادثې پیښیدل محال بریښیدل خوهمداسې وشول دروس استکباري خواك ملاماته شوه، دافغان ایمان دننګ په میدان داستکبار مادي شوکت او شان تر برمیالو ګامونو لاندې کړ ، دلته اتلان اوسیدل اوداتلانو خو کارونه حماسه زیږول وي نو دلته حماسي وزیږیدلي کیسې جوړې شوې اودعصرستره معجزه ښکاره شوه ، اوولس کلن زلمي رااوچت شول ویې ښودله چې دوی هم دابن قاسم په پله پل ایښودي شي ، دوی هم دغیرت اوهمت ځلي درولي شي اودوی هم پر حق قرباني ته حاضر دي یو نماینده یې وګورئ په همدغو جونګړو کې زیږیدلي دعصر له ستر جنګي ماشین سره جنګیدلي او دحق په لاره کې له اور باروتو او اوسپنې سره لوبیدلي :

طاهر ګل دمحمد زوی دخوست درزنې خیلو اوسیدونکی دمولوي صاحب حنیف ګل دجبهې مجاهد .

دخوست دبریمنې فتحې په جګړه کې دمکتب پر پوستو دتعرض په حالت کې دمین دچاودنې په اثر یوه پښه له لاسه ورکوې اودجهاد دویاړمنو قربانیانو له کاروان سره مل کیږي .

ګل

پردیس

فاتحانه موسکا

یوازې همدومره مې دبیروبار په منځ کې واوریدل :

...ماته ځای راکړه !

ددماغ لینونه مې شارټ شول ، غوسې مې دعقل سترګې ړندې کړې ، دګنهو تنو له منځه یو ببر سر راوتلی و اودوی سترګې یې زما په څیره کې خښې کړې وې ، ماله نفرته په ډکه لهجه ځواب ورکړ :

زه دچوکۍ لایق نه یم ؟

ته تر ما مستحق یې دخان زویه چې دومره په چوکۍ مین یې پلار ته دې ووایه چې موټر درته واخلي !

هغه موسکې شانته شووړو یې وویل :

بس ، بس دومره خبرو ته حاجت نشته ! خیر دی کښینه ! زما دغوسې لمبې لا ژبغړاندې وې:

بس بس ته کښینه ، خود به کښینم ، نور مې هم زړه راوپړسیده نور هم په غوسه شوم ، خو هغه مخ رانه پناه کړې وُ کڼ خلك مې په مخه کې ولاړ وو ، دهغه مخې ته هم یو دوه کسه وو نو ځکه نور هغه رانه پناه وُ ، زما په زړه کې یو ځل بیا ډیر څه راوګرځیدل .

داولې یې ماته دومره په حقارت وکتل ! ایا زه ددې مستحق نه یم چې په چوکۍ کښینم ! داداقا زوی په کوم امتیاز زما پر ځای دچوکۍ دکیناستلو لیوال وُ؟!!

زما په همدې سوچونو له نظره برالانداره بدله شوه، زه داشرافیت اوخانخانۍ دشهزادګانو په سوچونو کې پوب شوم ، هغوی هم همداسې وو ، اوس هم اشرافزاده ګان شته ، چوکۍ ، راحت ، او نعمت یوازې ددوی مال دی ، په عمومي موټر ، رستوران او ... کې هم ...

زه په همدې سوچونو کې ژور تللی وم دومره ژور چې له ځان او ماحول نه نور نه وم خبر یوازې هغه وخت وپوهیدم چې دموټر په ناڅاپي بریك مې په غیږ کې څوك راولویدل ، او چې ومې کتل هغه ببر سرې ځوان و ، زما یوه شیبه دغوسې سکروټې بیا راتازه شوې خو ډیر زر بیرته داسې سړې سړې شوې لکه سړې اوبه چې پرې تویې شوې وې له ډیره خجالته اوبه اوبه شوم ، داسې راته ښکاره شوه لکه دموټر سپارلې چې ټوله پر ما ملامتي وایي ، ماته بدبد ګورې اودنفرت په غشومې ولي :

زه ددې وړ هم وم ، زما په غیږ کې اشراف زاده نه یو غریب زاده ځلمی رالویدلی و زما دمجاهد ملت یو غازي و یوه پښه بې نه وه ، همدغه ورکه پښه یې پردې ګواه وه چې دملت او هیواد دعظمت اوشهامت سمبول مې دی ، په خوله یې فاتحانه موسکا غوړیدلې وه ، زه نور هم پیکه شوم نور مې هغه ته نشو کتلی ، زړه مې غوښتل بخښنه ترې وغواړم خو دهغه جلال اوپرتم له مانه لفظونه او خبرې ترې تم کړې...

دنور ځلی

ژباړن :سید شهریار

حضرت امام ابو حنیفه (رح) یو ځل دخپل تجارتي مال دټوټو دتانونو څخه لیدنه کتنه کوله چې ناڅاپه یې نظر په یوه داسې تان ولګیده چې څه ناڅه نقص یې درلوده امام صیب خپل ملازم ځانته متوجه کړ او ویې فرمایل :

دغه تان وګوره دخرڅیدو په وخت کې اخیستونکي له دغه نقص څخه خبر کړه دنقصان دخبریدو وروسته داخیستونکي خوښه ده چې تان اخلي او که نه .

دامام صاحب ملازم دډیر تجارتي مال سره دخرڅلاو په نیت ولاړ دمال دخرڅیدو وروسته بیرته راغی او ټولې پیسې یې حضرت امام ابوحنیفه (رح) ته وسپارلې امام صاحب چې پیسې وشمیرلې له حده زیاتې وختې.

سمدستي یې دملازم څخه وپوښتل : هغه تان هم خرڅ شو په کوم کې چې نقصان و

ملازم ځواب ورکړ : هو

امام صاحب وفرمایل : دهغه نقص څخه دې اخیستونکی خبر کړ چې په تان کې و.

ملازم پریشان او خفه ودرید په نازړه زړه یې وویل جنابه بخښنه غواړم دډیر مصروفیت له وجې مې اخیستونکی دهغه نقص څخه چې په تان کې و خبر نکړای شو ځکه چې زما بیخي له یاده وتلی وُ.

ددې ځواب په اوریدو دامام صاحب په څیره کې دخفګان اثار له ورایه ښکاره شول خو څنګه چې ملازم هم یو ایمانداره سړی و امام صاحب یې معذرت قبول کړ او دنور څه ویلو پر ځای یې وفرمایل :

کومې پیسې چې دې راوړې ټولې صدقه کړه دخدای پاك په رضا یې ورکړه .

ملازم عرض وکړ جنابه : یو تان کوم چې نقص درلوده دهمغې پیسې به بیلې کړو همغه به صدقه کړو ځکه چې نور تانونه خو جوړ وو دهغوی په خرڅیدو کې خو هیڅ څنډ او خنډ نه دی راولاړ شوی نو دټولو پیسو دصدقه کولو څه ضرورت دی ؟

امام صاحب وفرمایل : دهغه تان پیسې دنورو تانونو دپیسو سره ګډې شوې دي ته یې څه پیژنې چې دهغه تان پیسې کومې دي داچې ټولې پیسې مشتبه دي نو له دې امله ټولې صدقه کړه.

بیا ملازم همغه څه وکړل څه چې امام صاحب غوښتل :

رښتیا هم داسلام په مبارك دین کې دمشتبه شیانو دخوړلو څښلو او اخیستلو څخه په خاص ډول دځان ساتنې تاکید شوی دی درسول اکرم (ص) حدیث مبارك دی حلال هم ښکاره دی او حرام هم اودددې دواړو تر منځ څنې دشك او شبې شیان شته چې ګڼې خلك یې نه پیژني نو چاچې دهغه شکمنو شیانو څخه ځان وساته بیشکه هغه دخپل عزت اودخپل دین په ساتلو بریالی شواو څوك چې پد ی مشتبې شیانو کې ونښتل بیشکه په حرامو کې ونښتل .

لکه څنګه چې یو شپون خپل څاروې دپردیو دفصل غاړو ته څروي خامخا ویره ده چې پردې مال (حرام) به وخوړلی شي .

داهم دیاډولو وړده کوم پاچا یا امیر چې یوه سیمه دخلکو پرمخ وتړي بیا چې ددغې سیمې څخه هر څوك دځان دګټې لپاره استفاده کوي په حرامو کې راځي .

دمشتبه شیانونه دځان ساتنې لپاره دشپون په مثال کې ډیر څه پټ پراته دي همدا وجه ده چې مسلمانانو ته له اوله دشکمنو او مشتبه شیانوڅخه دځان ساتلو امر شوی دی اوداځکه چې نه چیرې دوخت په تیریدو سره دغه دمشتبه شیانو استعمال په خلکو کې عام شي او بیا نو دمشتبه شیانو استعمال هرو مرو حرام دی هرچا چې ترې استفاده وکړه بیشکه له حرامو او ناروااوو څخه یې کار واخیست .

زه ولې مسلمان شوم؟...

ورسیدو هلته د۱۳۰٤ هـ ق دذالحجې په ۹ مه زما دپاکې سنت پر ځای شول ،هلته ماته څرګنده شوه چې خپلوان مې په لټه کې دي او هرې خواته لویشت په لویشت خاوره زما په موندلو پسې چاڼ کوي ،ځکه خو ماسندلورې ته مخه وکړه بیا جوندې شریف ته دحافظ محمد صدیق صاحب خدمت ته ورسیدم چې دخپل وخت جنید ثاني اوسید العارفین ګڼلی شي.

څو میاشتې په بهر جوندې شریف کې دحافظ محمد صدیق صاحب سره پاتې کیدل ددې سبب شول چې داسلام روح زما په تن کې داسې ګډ شو لکه دپیدایښتي مسلمان په تن کې

حافظ صاحب یوه ورځ خلکو ته زما په مخکې وویل :

« عبیدالله دخدای (ج) درضا لپاره زه مور او پلار بللی یم »

دهغه ددغه مبارکو جملو اثر زما په زړه تراوسه پورې شته ،ما هغه خپل دینې پلار وګاڼه او دهمدغه جناب لپاره ما په سند کې ددایمي اوسیدو اراده وکړه او سندهي مې ځانته وویل ما دقادري راشدي په طریقه له جناب قاري صاحب سره بیعت کړې و ، ددې نتیجه داشوه چې له هیڅ لوی او زور ور انسان نه یم ویریدلی وروسته زه دچوندې شریف نه دعلم حاصلولو لپاره بهر ته ووتم لومړی مې دبهاولپور په ریاست کې دعربي زده کړه وکړه وروسته مې نور دیني علوم له نورو علماوو نه زده کړل زما خلیفه صاحب مې مو ر ته لیك واستاوه هغه راغلله او زه یې بیرته ورسره بیولم خو الحمد لله زه پخپل هوډ قایم پاتې شوم او زه بیا د۱۳۰۵ هـ ق په شوال کې دیوبند ته ولاړم او هلته مې دشیخ الهند مولانا سید محمود الحسن صاحب تر لار ښوونه لاندې خپل نوی دیني او سیاسي ژوندانه ته دوام ورکړ.

کمیته صحی پکتیا وپکتیکا اهداف وفعالیت ها

بقلم میر غوث الدین رئیس کمیته

وطن عزیز ما افغانستان طی ۱۳ سال انقلاب به ویرانه وخرابه تبدیل شده است وشرایط زیست وزندگی به نحوی تغیر کرده که زمینه رابرای بروز امراض مختلفه (ساری وغیر ساری) مساعد ساخته چنانچه عده کثیری از مردم ما امروز از انواع مشکلات صحی رنج می برند زمین های زراعتی به سبب برهم خوردن سیستم ابیاری وموجودیت مین ها در اراضی ویا به سبب شرایط نا گوار سیاسی کشت نگردیده وحاصلات زراعتی راکه منبع مهم عایداتی مردم را تشکیل میداد محدود گرد یده است.

مالداری بخش دیگری است که مردم ما زیاد تر به آن شغل داشتند وآنهم در شرایط موجوده بحدی که باید باشد ممکن نیست، خطوط مواصلاتی برهم خورده سطح دانش مردم پائین امده وعده بی شماری از اطفال وجوانان ما بی سواد مانده اند.

طی ۱۳ سال جهاد مجاهدین توانستند قسمت زیادی را در هر ولایت افغانستان از چنگ کمونیزم ازاد سازند وژیم کابل هر گز موفق نشده است که خدمات صحی را در خارج از شهر های بزرگ فراهم سازد.

با وجود سر از یر شدن پنج ملیون مهاجر وآواره به پاکستان وایران وهم چنان با وجود شهادت بیش از یك میلیون افغان هنوز هم به تعداد تقریباً هشت میلیون نفر در مناطق دهاتی افغانستان نیازمند به خدمات صحی باقی مانده اند.

ازسال ۱۳۵۹ به اینسو موسسات خیریه اسلامی وغیر اسلامی درامرتربیه کار کنان صحی وتاسیس کلینك ها ومراکز صحی علی الخصوص درولایات همجوار با پاکستان معاونت های زیادی نموده اند.

از سال ۱۳٦٤ به اینطرف بخش صحی جبهات ولایات جنوبی تحت قیادت ورهنمایی مجاهد بزرگوار الحاج مولانا جلال الدین حقانی در تنظیم انسجام وعرضه خدمات صحی به جبهات جهادی ومردم این نواحی اقدامات لازم نموده است.

> **ازسال ۱۳٦٤ به اینطرف بخش صحي جبهات ولایات جنوبي تحت قیادت ورهنمایي مجاهد بزرگوار الحاج مولانا حقاني در تنظیم امور صحي جبهات مذکور اقدامات لازم نموده است**

نظر به ضرورت مبرمی که برای کار کنان صحی اساسی در داخل جبهات ودر مناطق تحت کنترول مجاهدین احساس می شد این اداره درسال ۱۳٦۸ اقدام به تاسیس کورس های تربیوی کار کنان اساسی صحی در میرام شاه نمود وکمیته محترم M.S.H درین مورد از نظر تخنیکی ومالی بااین پروگرام مساعدت نمودند.

اولین گروپ ۲۵ نفری ازکار کنان اساسی صحی در ماه اپریل سال ۱۹۹۰ ازین کورس فارغ گردید که متصلاً بعد ازتهیه وتدارك اکمالات لازمه به مناطق تحت کنترول مجاهدین وبه محلاتی که ازآنجا انتخاب شده بودند فرستاده شدند تا کنون طی شش دوره مختلف تدریسی به تعداد ۱۰٤ کارکن اساسی صحی ازین مرکز تعلیمی فارغ شده اند ودرخدمت مردم مجاهد ما قرار دارند.

باتغیر وضع سیاسی درین دوولایت (پکتیا وپکتیکا) علی الخصوص ازاد شدن ولسوالی خوست وفتوحات مجاهدین درساحات دیگری زمینه آن مساعد شده تا پروگرام های خدمات صحی منظم تر شده وشکل بهتر وعملی تر رابخود بگیرد لذا قوماندانان وقائدین این دوولایت تحت قیادت الحاج مولانا جلال الدین حقانی به منسوبین بخش صحی هدایت فرمودند تااین بخش رااز محدود ماندن نگه دارند وهرچه بیشتر با ارگان های

بقیه درصفحه٦

مشروع حکومت هغه دی چی خدای (ج) ...

دقیصار اوچمتال په شمول تولی دوویشت یاخلور ویشت ولسوالی علاقداری چی وی داپه افغانستان کی ازادی شوی نو ملگرو شورا ته تعجیل ونه کړ ځکه چی خلك دجنگ نه راایستل ښه کار نه ؤ بیا په دی اوسینو وختو کی چون سیاسی حالات هم ډیر خراب شول اوځینو خلکودمجاهدینو په نوم دمسکو سفر هم وکړاو دجهاد په صفونو باندی ددوی ناوړوتبلیغاتو اوکردارونو بد اثر وکړ نو مجاهدینو داوویل چی اوس که دقوماندانانو راایستل مشکلات هم لری موسم هم سم ندی خو تر سر منی پوری که شورا پاتی شی دخلکو اعتماد په شورا باندی ضعیف کیږی او اهمیت یی له منځه ځی او کوم خلك چی دافغانستان په موضوع کی دخارج نه لاس وهنه کوی او روسان، نجیب یا دظاهرشاه پلویان یا امریکایان یا ایرانیان او...

په افغانستان کی دخپل خواهش مطابق یادملل متحد په خواهش چی هغه عیناًدروسانوخواهش دی غواړی چی بیا افغانانو ته یو گوداگی حکومت په خارج کی جوړ کړی اوپر دوی باندی یی وتپی اویا په نوم دمخلوط حکومت باندی دکمونست رژیم سره گډ حکومت جوړ کړی یا په نوم دبیطرف حکومت باندی گډ حکومت ور سره جوړکړی داټول خطرات موجود ؤ نو پدی اوس وخت کی دسرتاسری شورا غالی کمسیون راټول شوی و دغه کمسیون عالی چی و ددریمی شورا زمنه یی وکړه چی تقریبا ترلسم دجدی پوری به دالله تعالی په نصرت سره دریمه شورا چی مخکی موعوده وه وشی اودارنگه دهغی شورا لپاره دیوولسو مادو په ضمن کی یوه اجندا ترتیب شوه په هغې باندی مو بحث وکړ هغه تصویب شوه اجندا دبحث قابله وگرځوله شوه شورا به پدی مواردو باندی بحث کوی دهغی نه وروسته بیا هیئتونه تعین شول څه هیئتونه شمال ته اوځه غرب ته اوځه جنوب ته اوځه مرکزی ولایاتو ته ولیږل شول. ددغو هیئتونو لپاره کارتونه چاپ شول هغوی ته اجندا چاپ شوه اودهغوی په لاس ورکړی شوه ځینو هیئتونوحرکت کړیدی او ځنی دحرکت په حال کی دی نو دشورا معنی داوه چی کمسیون عالی شورا کړی سرتاسری شورا به لړ وروسته کیږی ددغی غونډی اهداف دشورا راغوښتل اودهغی لپاره یوه اجندا ترتیبول او هیئتونه تعینول وو اوددغه هدف لپاره شوی وه.

پوښتنه:

محترم حقانی صاحب پدی شپو او ورځو کی دنړی راډیو گانی راز راز تبصری کوی چی دافغانستان پخوانی پاچا یعنی ظاهرشاه به دافغانستان په سیاسی حل کی یوه مهم رول لوبوی تاسی په دی باره کی څه فکر کوی؟

ځواب:

زما خیال دادی چی داهسی خیالی خوبونه دی چی ځینی خلك یی وینی اودافغانستان په اوسینو شرایطو کی په هغه قسم چی دظاهرشاه وختونه وو په هغه باندی قیاس کوی دافغانستان دسرنوشت اودافغانستان ددغی عبوری حالت لپاره دغه قیاس غلط دی ځکه چی په هغو حالاتو کی ظاهرشاه چی په افغانستان کی منلی شوی حاکم وو او خلك دسیاست په ډگر کی بلکل ویښ نه و اوداسلحی نه ټول ملت بلکل خلاص و په هغه حالت کی دظاهرشاه حکومت کول په خلکو باندی اودخلکو منل یوه معنی لرله په اوسینو شرایطو کی چی خلك اوملت ټول مسلح دی په هرنوع وسلی سره اودسیاسی نگاه نه ټول په

پاتی په (٦) مخ کی

(دنور په لور)

زه ولی مسلمان شوم؟

ابو هارون

مولانا عبیدالله سندی « هندوستانی »

ستردینی عالم، دهنددازادی دغورځنگ دلومړی لیکی لار ښود مفکر او مصلح مولانا عبیدالله سندهی پیژندگلوی او تعارف ته اړه نه لری، دغه ستر عالم دسیکانو په یوه کورنی کی پیدا شوی دی خو کله چی داسلام په مبارك دین مشرف شو بیا یی نو خپل ټول دخدای (ج) ورکړی صلاحیتونه، داسلام دخدمت لپاره وقف کړل، دخپل وطن دازادی په لاره کی یی خپل هرڅه دقربانی لپاره حاضر کړل ډیرو هیوادونو ته یی په دی اړه سفرونه وکړل په افغانستان ترکیه، روس، سویس او سعودی عربستان کی یی ډیر کلونه تیر کړل، اودمسلمانانو دنجات اوازادی لپاره یی عملی تدبیرونه په کار اچول، دعمر په وروستیو شپو ورځو کی یی په ډیلی کی استوگنه غوره کړه اوبیا په ۱۹٤٤ کال هلته وفات شو ...

زه د۱۸۷۲کال دمارچ په لسمه دپنجاب دسیالکوټ په چیانوالی کلی کی په یوه سك کورنی کی زیږیدلی یم پلار می رام سنگ زما له زیږیدونه څلور میاشتی دمخه وفات شوی و، دوه کاله وروسته می نیکه هم وفات شو، زه می مور دماماخیلو کره دام پور « ډیره غازی خان » ته بوتلم، زما ماما هلته مزدور کار و زما بابا دسکانو دحکومت په وخت کی دخپله کلی نماینده وو.

په ۱۸۷۸م کی می زده کړه پیل کړه دخدای (ج) په فضل زه ډیر ذهین وم اوزه دممتازو زده کوونکو په ډله کی وم.

په ۱۸۸٤ کال کی چی زه دوولس کلن وم ماپه ښوونځی کی دیوه هلك سره د«تخفة لهند» په نوم یو کتاب ولید او خوښ می شو کتاب دهندی ټولنی په باب ؤ هغه می له هلك نه دمطالعی لپاره وغوښت اوپه ډیر دقت اومینه می ولوست خصوصاً دکتاب هغې برخی چی دنویو مسلمان شویو کسانو په باب وه زه ډیر تر اغیزی لاندی راوستم، داسلام ربښتینولی زما په زړه اودماغ یو نقش پریښود.

دیره غازی خان داکثریت مسلمانانو استوگن ځای و اوعام مسلمانان دمذهب اودین ډیر پابند او مینه وال وو، دغه چاپیریال دنامسلمانو خلکو په زړونو ژور اغیز کاوه، یوه ورځ دهمدغه ځای د«کوتلی مفلان» کلی څو تنو هندوانو چی هغوی هم زما په څیر د«تحفه الهند» کتاب له لوستلو څخه ډیر متاثر شوی وو ماته دشااسمعیل شهید « رح » تقویه ایمان نومی کتاب دلوستلو لپاره راکړدهغی له مطالعی نه وروسته داسلام عقیدی اوتوحید اوشرك په باب زه ډیر ښه وپوهیدم، ما داحس کړه چی هغه شیان چی ښه گڼم او عقل می شاهدی وربآندی وایی دسکانو او هندوانو دمذهب پرتله په اسلام کی زیات دی دا زما احساس او مشاهده وه چی ذکر شویو کتابونو لوستلو راباندی اثر کړی و ما ولیدل چی سکان هم یو خدای (ج) منی او مسلمانان هم خوداسلام دتوحید عقیده له سکانو نه غوره ده، دانسانانو تر منځ مساوات دواړه مذهبونه لری خو په اسلام کی دمساوات او عدل نظام له سك ملت نه څو ځله لوړ او غوره دی دټولنی له نمایشی رسم او رواج نه ددواړو نفرت دی خو ما دا زیاته حس کوله چی دسکانو مذهب درسم او رواج په لومو کی ښکیل شوی دی، اواوس ددوی اړیکی دبابا گورو نانك له سپیڅلو تعلیماتو سره هسی په نامه پاتی دی.

ماپه دی خبرو له ډیره وخته راپه دی خوا فکر کاوه څومره شپی می په ویښه سبا کړی اوبالاخره وپوهیدم چی کوم مذهب چی زما مور خویندې او مامامنی برحقه نه دی ولاړ اواسلام چی دنورو مذهب دی هغه برحق ولاړ دی اوس نوچی زه کوم څه به کوم او چیرته ولاړ شم؟

په همدی ورځو کی یوه مولوی صاحب دمولوی محمد صاحب لکهو یو کتاب « احوال الاخرت » چی په پنجابی ژبه و راکړ، دتحفته الهند او احوال الاخرت بیا بیا لوستلو بالاخره زه حتمی او وروستی پریکړی کولو ته اړ کړم، ما لمونځ زده کړ او دتحفة الهند دمصنف په نامه می خپل نوم عبیدالله کیښود.

داد ۱۸۸۷ م کال خبره ده او زه هغه وخت داتم ټولگی زده کوونکی وم ما دا اراده وکړه چی راتلونکی کال ته چی زه په بل ښوونځی کی ځان شاملوم نو داسلام راوړو اعلان به هم کوم.

خو جذباتو می وپوهولم چی نور ځنډ مناسب نه دی څوك خبر دی تر هغه وخته پوری به مرگ فرصت راکړی که نه، ځکه خو د۱۸۸۷م کال داگست په ۱۵ مه نیټه سهار وختی په داسی حال کی چی مور می په انگړ کی ناسته وه، په څه پلمه له کوره راووتم او دژوندانه دنوی سفر په مزله می پیل وکړ، زما منزل معلوم نه و زما سره دکوتلی هلان کی یو ملگری «عبدالقادر» هم دسفر ملگری و موږ دواړه بیا دیوی عربی مدرسی له یوه طالب سره مظفر گړ ته

«۲۳» مخ کی

مشروع حکومت هغه دي ...

پوهی اوبصیرت مجهز دی اوداستقلال رایی نه اوداستعداد اوقوت نه چی دهرچا سره مجهز موجود دی هم ورسره بشری طاقت موجود دی او هم ور سره سلاح موجوده‌ده ددی لحاظ نه هم چی دی دغه خلك بلکل مستقل اوقوی دی او ظاهرشاه هم چی دی پدی اوولس کالو کی بیا خاص پدی دیارلس کاله دانقلاب کی دمجاهدینو په طرف نه په خبرو سره نه په قلم اونه په توری او نه پخپل قریب اونه پخپل ځان سره دمجاهدینو ملاتړ په هیڅ میدان کی ندی کړی اوهغه شتمنی چی ده له افغانستان څخه دځان سره وړی ؤ دهغی نه یی مجاهدینو ته یوکلینك هم جوړ کړی ندی ، ورته یوامبولانس هم نه دی اخیستی ورته‌یوه کمپله هم نده رالیږلی اویوکتاب یی هم دمجاهدینو په مظلومیت او کامیابیو اودروسانو په ظلم او استبداد اودیکتاتوری نه دی لیکلی نوپدی اوس حالاتو کی هغه داتوقع کوی چی زه به لکه دهغه پخوا ښان په افغانستان کی محبوب اویا منلی شوی حاکم وم اوماته به خلك اسلحه په ځمکه کیږدی اواسلحه به زما په مقابل کی نه استعمالوی او خلك به زما تیر شوی وختونو او کارونو ته هیڅ نظر نه کوی اویا به دی ته نه گوری چی خلقیان اوپرچمیان دچاواکداری په وخت کی وزیریدل دچا په سبب راغله او روسان دچا په سبب باندی افغانستان ته راننوتل ، زما گذشته ته به څوك نظر نه کوی اوپدی به می څوك نه محاکمه کوی یاپدی چی زما سره دافغانستان ډیره شتمنی موجوده وه په هغی می دگوډانو دړندو دمریضانو دمجاهدینو اویتیمانو په هیڅ نوع خدمت می ندی کړی آیا ددی به ماته څوك سوال نه متوجه کوی.دی ته یی هیڅ پام نشته چی کوم خلك یی منی هغه هم ټول هغه خلك دی چی په جهاد کی بلکل ساړه دی اوجهادی پایگاه اوقوت نه لری هغه خلك ددوی پیروی کوی‌نو مسله دلته داده چی قوت دلته دجهادی قوتونو سره موجود دی جهادی قوتونو کی دده محبوبیت نشته چی کوم خلکو کی دده محبوبیت شته دهغوسره جهادی قوت نشته یعنی پخپله ماته داسی ښکاری چی هغه خلك چی کوم دده سره محبت کوی هم بی ځایه یی کوی اوچی څوك یی چی راغواړی هم بی ځایه یی را غواړی داسمه ده چی رابه شی خوپدی معنی نه چی دی په افغانستان کی امن راولی سوله به راولی اوپه خلکو به حکومت وکړی.

پوښتنه : محترم حقانی صاحب دملگرو ملتونو استازی بینن سیوان ویلی چی که په افغاستان کی دمجاهدینو حکومت راشی او دملل متحد دپنځه فقرایزی طرحی په خلاف وی هغه به مشروعیت ونه لری که تاسو پدی هکله دمجاهد غږ راډیو اوریدونکو ته معلومات راکړی ډیره به ښه وی ؟

ځواب : موږ خو دبینن سیوان داقصه بلکل باطله بولو ځکه چی مشروع حکومت هغه دی چی خدای (ج)او رسول (ص) دهغه لپاره قانون او چوکاټ جوړ کړیدی که په هغه چوکاټ دخدای او رسول کی راشی هغه مشروع حکومت دی او هغه چی ملل متحد ورته مشروع وایی هغه موږه پخپله مشروع نه بولو او داصرف غرب غلط شوی دی چی وایی‌زه یم ، چی مشروع اوغیر مشروع جوړوم موږ پخپله خپل جهاد روان کړیدی او داموهیڅ کله دملل متحد په مشروعیت ندی روان کړی اودغه دروسانو مقابله مو چی کړیده نه دهغوی په مشروعیت باندی شوی نن چی دنجیب سره جنگیږو کله ددوی په مشروعیت باندی دی خو دوی چی هغه حکومت ته مشروع ووایی هغه حکومت به څوك په افغانستان کی حمایه کوی دهغه اردو به کومه وی دهغه نه دفاع به څوك کوی، پولیس به یی څوك وی بیا داخوبونه دی نه وینی چی په افغانستان کی انتخابات کیږی دملل متحد تر نظارت لاندی یادهغه تر اداری لاندی کیږی داخوبونه دنه وینی ،موږ وایو موږ چی دروسی دامپراطوری مداخله ونه منله نو دملل متحد عسکر به هم دخدای په فضل زموږ په ژوند کی دافغانستان په سرحد کی انشاالله یوه قدم هم کښینږدی اوکه قدم کښیږدی هغه به یی لاری وی چی دگورباچوف شوه داموږ یوه ږلحی مداخله بولو نه داچی دافغانستان سره بشر دوستی ، نوبینن سیوان باید چی دغسی بی ادبی ونه کړی چی دمجاهدینو حکومت مشروع په اسلام برابروی ، اوهغه ته دی غیر مشروع ووایی اوظلم اواستبداد حکومت‌دی‌چی راولی هغه ته دی مشروع ووایی دوی (ملل متحد) سره که چیری مشروعیت او معقولیت وای په نجیب باندی باید دجنگ پړه اچولی وای چی دغه نجیب مجرم دی دهغه حکومت یوه تحمیلی حکومت دی جنگ دده په سر راغلی دی ، دی موجب ددغی بدبختی گرځیدلی دی باید دچون او چرا پرته لری شی او دملل متحد نه دده نماینده وشړل شی دده سفارتونه له نورو مملکتونونه لغوه کړی بیا به دغه خبری دتطبیق وړ وی.چی نور ګاور بند‌وشی،اوربند به پخپله شوای وای ځکه چی جنگ دنجیب سره دی.بیا دی مجاهدینو ته کمك بند شوی وای اوبیا داغوښتنه کړی وای چی عمومی انتخابات دی وشی‌دمجاهدینو افغانانو چی مسلمانان دی غیر دنجیب دانتظامیی نه نوردمسلمانانو دتولو اقشارو نه یو حکومت جوړ شی هلته تطبیق شوای وای،نودغو فقرو واندی کول چی اوربند دوشی اوپه ظالم اوپه مظلوم باندی یو ځای اوربند شی اوپه ظالم اوپه مظلوم باندی یو ځای کومك بند شی اونجیب په شمول‌دغه ټولو نه دی یو گډ حکومت جوړ شی اودټولو په منځ کی عمومی انتخابات وشی دافقری ټولی غلطی دی .

کمیته صحی پکتیا وپکتیکا ...

صحی دیگری که اکثراً درپشاور مرکزیت دارند تماس مستقیم ودایمی بر قرار نمایند .

لذا کمیته صحی ولایت پکتیا وپکتیکا که بخش صحی قبلی نیز درآن مدغم می باشد بحیث یك کمیته صحی فعال که بتواند در امورات صحی از مردم ولایت پکتیا وپکتیکا نمایندگی کند رسماً در برج سنبله سالجاری افتتاح وبه کارآغاز نمود .

اهداف مشخص کمیته صحی ولایت پکتیا وپکتیا عبارت است از:

۱- برقراری روابط فنی ومسلکی با کمیته های صحی دیگری که به ارتباط عرضه خدمات صحی برای مردم افغانستان کار می کنند .

۲- جلب همکاری کمیته های خیریه خارجی که درقسمت صحت عامه مشغول فعالیت اند .

۳- تربیه کار کنان صحی به سویه های مختلف به منظور رفع نیازمندی های صحی وکمبودپرسونل طبی.

٤- تاسیس مراکز صحی ابتدایی‌وشفاخانه هادرولایات مذکور .

٥- تاسیس مراکز صحی حمایه طفل ومادر وترویج عرضه خدمات صحی M.S.H به سطح خانواده ها .

٦- سروی وارزیابی وضع عمومی صحی وضروریات مردم در حوزه جنوبی افغانستان.

٧- تاسیس امریت های صحت عامه در ولایات جنوبی ودر قدم اول درولایات پکتیا وپکتیکا .

٨- پلان گذاری امور صحی برای ولایات فوق الذکر .

٩- نظارت ، ارزیابی وکنترول عرصه خدمات صحی درولایات جنوبی ودر قدم اول درپکتیا وپکتیکا .

لذا همکاری وسهم گیری شما مجاهدین قهرمان در انجام امور صحی بااین کمیته نهایت بارز بوده وامید وارم که با منسوبین کمیته صحی H.C.P.P چه در داخل کشور وچه درپاکستان از هکاری های مخلصانه خویش دریغ نورزید .

اگردرمورد کمیته صحی پیشنهاداتی دارید مانهایت خورسند خواهیم شد که با شما از نزدیك ملاقات نموده وتبادل افکار کنیم ویا می توانید به این اداره مکتوبی اطلاع بدهید

«چاینا وایت» نوی او خالص ...

قاچاقو کی ورگډیږی .

که څه هم تراوسه ددی خبری څه اسناد او شواهد په لاس ندی راغلی چی په چین کی هم دهروئینو اډی شته ولی دمافیا سازمان پداسی سیمو کی دنوو لارو دپیداکولو په هڅه کی دی ، په کوم ځای کی چی دقانون په نافذولو کی څه سستی او تنبلی لیدل کیږی .

داسیا په جنوب لویدیزه برخه کی دطلایی رنگه هلال لوله سیمی څخه دپاکستان دسرحدونو په لاره هیروئین په ډیره اسانی سره چین ته وړل کیدای شی. تیر کال په پیکنگ کی دمخدره موادو دمخنیوی لپاره په جوړ شوی یوه کانفرانس کی دامریکا دمتحده ایالاتو دمخدره موادو دمخنیوی یوه لوړ رتبه مامور وویل : « کله چی الوتکی له پیکنگ څخه اروپا یا شمالی امریکا ته الوزی نو چاته ددی خبری شك هم نه ورلویږی چی په هغی کی به هیروئین هم وی ».

ولی په ۱۹۸۸ کال کی یوه ډرامایی ډوسیه رامخی ته شوه ، هلته چی دچین حکومت دشنگای په هوایی ډگر کی دطلایی ماهیانو داسی ۲۵ بکسونه کشف کړل چی دامریکا متحده ایالاتو ته استول کیدل . ددی ماهیانو له منځ څخه ۵۰.٤ کیلو هیروئین راووتل ، او په همدی ډوسیه کی دسان فرانسیسکو دری چینی نژاده اوسیدونکی چی په ښکاره توگه یی ددغه ماهیانو دترلاسه کولو هاند کاوه ونیول شول .

دامریکا په کوڅوکی کرځیدونکی هیروئین خرڅونکی اسیایی ډلگی چی دوایت تایگر او گرین دریگونز په نومونو یادیږی ، چین ته ځی او دهغی ځای په ښارونو کی دمخدره موادو خرڅونکو نړیوالو گروپونو څخه دخپلی برخی اخیستو کوشش کوی ، دغه جنایت کاره ډلگی دچین هغه قوم پرست خلك په خپل دام کی رانښلوی ، کوم چی په غیر قانونی توگه امریکا ته تلل غواړی دغه چینایان چی په ۱۹۸۹ کی په چین کی دعامو مظاهرو او قتل عام نه وروسته په لویدیزو هیوادو کی دیوه نوی ژوند غوښتونکی دی ، ددی ډلگیو ددوکی په دام کی نښلی ، اودجنوبی امریکا او کاناډا له لاری هغوی دامریکا متحده ایالاتو ته پدی شرط راوستل کیږی ، چی هلته په رسیدو سره به ۳۰۰۰۰ ډالره دغه ډلگیو ته ورکوی ، او امریکا ته په رسیدو سره ډیر کم کسان داسی وی چی دغه قرض پری کولای شی ، اوله همدی امله ددغه جنایت کاره ډلگیو دغلامی په لومه کی نښلی ، دهغوی څخه ځینی په رستورانتو او مغازو کی په ډیر کم اجرت استخدام کیږی اوله ځینو څخه دمخدره موادو په قاچاقو کی کار اخلی ، چی هغوی بیا دامریکا کوڅه په کوڅه گرځی او دهیروئینو دخرڅلاوکاراوبار کوی. دغه خلك پدی ویرول کیږی ، چی که یی ددوی له اوامرو څخه سرغړونه وکړه ، نو دامریکا دولت به دی هیواد ته ددوی په غیر قانونی راتگ خبر کړی . ځکه نو دغه خلك دامریکا څخه دویستل کیدو له ډاره مرډول غیر قانونی کار ته اماده دی .

دجنایت کاری د مصروفیتونودرلودونکی اکثره ډلگی د امریکا متحده ایالاتو ته ننوزی اودموقع پرستی دمرض په څیر په گڼورو بازارونو کی خپریږی . پدی کی اسیایی جنایت کاره ډلگی ، داروپا یی قومونو څخه جوړ شوی مافیا سازمان له غړو څخه هم ډیر خطر ناك دی .

رښتیا خبره داده چی په امریکا او لویدیزو کی ددغه اسیایی ډلگیو اوپه طلایی مثلث کی دهغوی دمخدره موادو دباداراانو یوازینی گډ هدف دادی چی دچاینا وایت نویو هیروئینو غوښتنه زیاته شی ، ترڅو ددوی دغه کرغیړن اوغیر انسانی کاراوبار نور هم پراخه شی

پای

رواني خبري
هيلي اواميدونه...

شوی وو-جوړ شوی و ، هغه دجهادی قیادتونو دخپل منځی اختلافاتو او ځان غوښتنو په نتیجه کی په تدریج سره له یوی ورځی نه بلی ته کمزوری ،بی واکه او بی ځواکه شو ، اوبالاخره داسی پړاو ته هم ورسید چی هیڅ ډول قانونی او اداری صلاحیت ورته پاتی نشو .
سره له دی چی ددی حکومت دجوړیدو پر وخت هم دحکومت دتشکیل دبڼی،چوکاټ او ترکیب په هکله په ملی اونړیواله سطحه یو لړ اعتراضونه ، غوښتنی اوپوښتنی مطرح وی ، بیا هم زموږ په مجاهد ملت کی چی له یوی خوا په هغو حالاتو اوشرایطو کي دمجاهدینو دغسی یو واحد سیاسی او اداری سازمان اوتشکل ته زښت زیات ضرورت احساسیده ، پر ټول مجاهد ملت دمأیوسی اونهیلی لړۍ خپری وی اوله بلی خوا زموږ داسلامی انقلاب حساس اوسرنوشت ټاکوونکی پړاو رارسیدلی ؤ ، ددغه عبوری حکومت په جوړیدو اوفعالیدو په سیاسی اونظامی ډګر کی کارنده تحرك رامنځته او دهیلو او امیدونوغوټی په غوړیدو شوی ، خوله بدمرغه چی ډیر ژر دځان غوښتنواو دهمکاری دنشتوالی په نتیجه کی داختلافاتو ګردجنی فضا اوسیلیو زموږ دمجاهدو وګړو دهیلو اوارمانو غوټی وزمولّلی اوحکومت دبی واکی اوبی ځواکی له امله له یوی ورځی نه بلی ته دوروستي بری په وړاندی خنډونه اوګواښونه په زیاتیدو شول.
دی کار له یوي خوا طاغوتی ځواکونو ته دناوړو-زهر ناکو تبلیغاتواو ډول ډول لاسوهنو زمینه برابره کړه اوله بلی خوا یی تراوسه دمزدور رژیم په پایښت کی مرستند ویه رول ترسره کړ.
لنډه داچی دمجاهدینو دیو واحد سیاسی اواداری تشکل نشتوالی دجهاد په سیاسی اونظامی ډګر کی داسی لویه نیمګړتیا او کمزورتیا ده چی هیڅوك تری سترګی نشی پټولی. زموږجهادی قیادتونو له ډیری مودی راهیسی دادرك کړی چی په هره ممکنه وسیله چي کیدای شی داخلا ډکه اودانیمګړتیا او کمزورتیا له منځه یوسی خو ددی ستونزی درفع په کولو سرله ډیری اوږدی مودی راهیسي ددریځونو اونظرونو بیلوالی شته. ځنی داسی نظر لری چی هماغه پخوانی عبوری حکومت دی پیاوړی اوپرپښو ودرولی شی اوځینی دیوي مشورتی شورا له لاری چی په هغی کی دټولو جهادی ځواکونو استازی ، جهادی قوماندانان ، دینی علما ، دقومونو مشران ، با دیانته سیاست پوهان شامل وی دیوعبوری حکومت درامنځ ته کولو وړاندیز کوی اوځینی بیا داکار دیوی اهل حل والعقد شورا له لاری ترسره کول غواړی اوځینی نور ....
په دی اړوند په دي وروستیو وختونو کی دجهادی قیادتونو دمشرانو اومسوولینوتر منځ لیدنی کتنی اوتماسونه زیات او هلی ځلی دپخوا په نسبت ګړندی شوی دی .
څو ورځی دمخه په هغه غونډه کی چی دځینو جهادی تنظیمونو اوځواکونو دمسوولینو اومشرانو ښاغلو حضرت صبغت الله مجددی ، پیرسید احمد ګیلانی ، مولوی محمد نبی محمدی،استاد برهان الدین ربانی اوانجینر ګلبدین حکمتیار ، آیت الله محسنی ،انجینر احمد شاه ، قاضی محمد امین وقاد ، مولوی نصر الله منصور اومولوی سمیع الله په ګډون جوړه شوی وه پریکړه وشوه چي :
١- دیوی قیادی شورا تشکیل چی په هغی کی دتنظیمونو مشران غړیتوب ولری اوبیا به له دوی څخه یوتن درئیس په توګه ټاکل کیږی .
٢- دیو اسلامی حکومت تشکیل چی دجهادی تنظیمونو مشران به پکی برخه ونلری .
٣- یوځلوښت کسیزکمیسیون باید له ٦٠ څخه تر سلو تنو پوری پراخ شی .
٤- مؤقت حکومت به تریوه کال پوری دچارواګی په لاس کی لری اوبیا به یی منتخب حکومت ته انتقالوی .
٥- دیو کال په اوږدو کی به انتخابات کیږی .
٦- دمنتخبی شورا تر جوړیدو وروسته به قیادتی شورا منحل کیږی .
٧- مؤقت حکومت به دکابل دمزدور رژیم تر رانسکوریدو اودټولو صلاحیتونو تر انتقال وروسته پخپل کار پیل کوی .
داچی داطرحه به دهغو جهادی قیادتونواو ځواکونو لپاره چی دځینو ملحوظاتوله امله په دغه غونډه کی برخه وال نه وو دمننی اوقناعت وړ وي او که نه ؟ ټول هغه جهادی مشران چی تر پریکړی لاندي یی لاسلیکونه

کړی ، ددی پریکړی په عملی کولو بریالی او هوډمن پاتی شی او که نه دنورو پریکړو په شان به یوازی دکاغذ پر مخ پاتی شی ؟ اوبیا دغه پریکړه او وړاندی شوی طرحه په دغسی حالاتو کی تر کومه حده زموږ ددرد دوا کیدلی اودوروستی بری په وړاندی را ولاړی شوی ستونزی مو پری رفع کیدلی شی ؟ داهغه پوښتنی او غوښتنی دي چی دوخت په تیریدو او دحالاتو په لیدوسره ځوابیدای شی .
ښه داده چی زموږ جهادی مشران په دغه اړوند له پوره غور او احتیاط نه کار واخلی ، داسلامی پوهی اوبصیرت په رڼا کی دقضیی ټول اړخونه دپخوانیو اتحادونو ، ائتلافونو ، عبوری حکومتونو ، قیادتی شورا ګانو او... ټولی خوږی او ترخی تجربی وځیړی اوله دغه ستونزور پړاونه داسلامی انقلاب دبریمن راویستلو لپاره داسی طرحه او دحل لاره وړاندی کړی چی په عامه توګه زموږ ټول مجاهد ملت ته اوپه خاص ډول ټولو جهادی ځواکونو ته دمننی ، ننګی او ملاتړ وړوګرځی داسی نه چی دچا په حق کی ظلم وشی او حقوق یی تر پښو لاندی شی .
ښایی دازموږ لپاره وروستی چانس وی ، ډیر لږ غفلت هم زموږ اسلامی انقلاب ته داسی زیانونه وراړولی شی چی بیا به یی جبیره کیدل زموږ له واك او ځواك نه وتلی خبره وی .

وما علینا الاالبلاغ

****

قوم يهود درآئينه...

وقتی سرداران مسلمانها رامی دیدند سلام می نمودند وتظاهرمیکردند که انها اماده اند هرنوع خدمت رادرمقابل سلطنت های جدید اسلامی انجام دهند این نوع خدمت های نام نهاد این قوم دراندلس اشکار کردید ، زمانیکه انها برای مسلمانهادرریاستهای نصرانی شروع بجاسوسی نمودند ومسلمانها براین معتقد شدند که خطری از جانب یهودها برای ایشان نخواهد بود وبدین سبب بسیاری از یهودی ها رابه منصب های بزرگ ووزارت خانه هافائز نمودند .
زمانیکه صلاح الدین ایوبی بیت المقدس رافتح نمود او بعد از عهد خلافت حضرت عمر (رض) برای بار اول صرف چند یهود رااجازه داد که درانجا زندگی نمایند اما دستور داد که برای ایشان اجازه حق دخول درداخل مسجد اقصی نیست روی همرفته وقتکیه حکمروایی عثمانی ها حیثیت یك قدرت را در جهان گرفت ، وبر ازوپا هم حکمروایی راشروع کرد یهودها شروع به خدمت باب عالی نمودند حتی که بعضی انها به صدارت هم رسیدند اما این یهودهای مکار زیاد وقت راهمراه سلطنت عثمانی که انهارا انقدر نوازش کرده واز تفتیش هسپانیه انها را نجات داده بود نگذراندند
یکی از تدابیر یهودی ها این است که در هرجائیکه جنگ دربگیرد بعض انها همراه یك لشکر وعده دیگرهمراه لشکر دیگر یکجا می شوند ، انها راز های مخفی هر دولشکر راجمع کرده بخاطر فایده وبقای یهودی ها استعمال می نمایند بلکه اکثر این جنك ها راکه به فایده شان است خود درمیدهند یهودی ها در باره رساندن اسرار اتومی امریکا به روسیه کار عظیمی راانجام دادند که روس ها قبل از ان استعداد انرا نداشتند .
درجنگ جهانی اول درسال ۱۹۱۷ م ساینس دان کیمیایی معروف به نام وائزمین خدماتش رابه بریتانیا مشروط به ان گذاشت که انگلستان باید فلسطین رابه یهودی ها بدهد سلسله دسایس یهودی ها علیه جهان اسلام امروز هم ادامه دارد انهاامروز پی تعمیر هیکل ومنهدم ساختن مسجد اقصی اند یهودی ها کندن اساسی مسجد اقصی راازبیخ شروع کرده اند وبعد از ان میخواهند که اورا با انفجار بم ازبین ببرند ، بخاطر انجام این کار تنها یهودی ها نیستند بلکه ۵۰۰۰۰ هزار امریکا یی با انها همکاراند که سالانه تبرعات را جهت به شهادت رسانیدن مسجد اقصی ودرعوض تعمیر هیکل میدهند به نظر انها تا زمانیکه هیکل تعمیر نگردد مسیح انها یعنی دجال نه خواهد امد.
نخستین پلان یهودی ها این بودکه فلسطینی هارابه طرف اردن سرازیر نمایند اما نسبت کوشش شاه حسین رئیس دولت ان کشور و روابط حسنه وی با بریتانیا وامریکا این پلان را تا مدتی به تعویق انداختند.
درعوض ان نظریه امریکا ان است که باشندکان ان مناطق باید در صحرای سینا جابجا شوند وبخاطر ان ملیون هادالر باید صرف گردد تا اب دریای نیل به ان صحرا رسانیده شوم

دگرديز دوروستيو شهيدانوپه ياد په ميرامشاه کي درنده غونډه

ميرامشاه ، دجهاد هنداري خبريال :
له ميرامشاه څخه زموږخبريال رپوټ راکوي چي دتيري اونی دپنجشنبي په ورځ دقوس په١٤مه نيټه په ميرامشاه کي دالحاج مولانا جلال الدين حقاني ددفتر له خوادپکتيا ولايت دجهادي قوماندانانو ، مخورو ،سپين ږيرو ،مجاهدو اوانصارو علماوو په ګډون دګرديز دوروستيو شهيدانو په ياد يوه درنه غونډه جوړه شوي وه.
زموږ خبريال ليکي غونډي پر نوميالي مجاهد الحاج مولانا جلال الدين حقاني سربيره يو شميرنورو علماوو اوسپين ږيرو ويناوي وکړي اودخپلو خبرو په ترڅ کي دګرديز دوروستيو برياليو عملياتو په ترڅ کي دشهيدو مجاهدينو ترپادوني اودرناوي وروسته دروانو سياسي ملي اوبين المللي مسايلو په هکله هم په تفصيل رڼا واچوله.دغونډي ويناوالو په مسکو کي دروسانو اومجاهدينو ترمنځ وروستي خبري اتري رد کړلي دغونډي بشپړ راپورتاژ به انشاألله دجهاد هنداري په راتلونکي ګڼه کي ولولئ .

دنوم بدلول

جندعلي خان ديارمحمد خان زوي داتحاد اسلامي دعالي ليسي دنهم ټولګي زده کوونکي خپل نوم په سميع الله فياض تبديل کړي دی هيله ده چي ټول خپلوان ، دوستان اوهم ټولګيان يي تردي وروسته دسميع الله په نوم وبولي ،

گامهای تند بسوی تجزیه ...

درپشت تمام وقایع وجریانات که درسرزمین اتحاد جماهیر شوروی سابق می گذرد دیده می شود که پانزده جمهوری وچندین خود مختاری که در انها بیش از صد ملیت گوناگون بازبان ، فرهنگ وتاریخ جدا ز هم تحت فشار وزور در جوار هم قرار داده شده بودند امروز با تضعیف کشش ازمرکز خود بسرعت پابفرار می گذارند وان کتله وحشت ناك پارچه می گردد بناء بهر اندازه قدرت کرملین کاهش می یابد جمهوری ها از مرکز فاصله خواهند گرفت. تلاش یلتسین میتواند از جهتی باشد که میخواهد مرکز جدید راتحت نام دیگر بوجود اورد که درمرکز ان خودش وجمهوریت اش قرار داشته باشد زیرا جمهوری روسیه فدراتیف نیرومند ترین جمهوری بوده وبیش از هفتاد هزار بم اتومی باخود دارد .
ایالات متحده نیز که ناظر متلاشی شدن رقیب سابق خود است بی میل نیست که جمهوری های که در انها سلاح اتومی روسیه قرار دارد دریك تشکیل واحد قرار گیرند تا خطرات کار برد سلاحهای اتومی کاهش یابد.
صده ماصده ایست که یکی از خونخوارترین دکتاتوری که بشر تا حال می شناخته نابود وپارچه شد وای کاش ان ملیونها ملیون انسانهای که از ددمنشی امپراطوری وحشی کمونیزم در سراسر جهان باصد ارمان چشم از جهان پوشیدند امروز درین نظاره مسرت باربشریت باما یکجا می بودند .

آذربائيجان کشور ازاد است ودرکنفدراسيون مسکو شرکت نخواهد کرد

اسلامی اباد ، ١٦ قوس :
محمودوف اعتبار عضو پارلمان وعضو شورای دفاع ملی اذربایجان طی یك کنفرانس مطبوعاتی در اسلامی اباد گفت که کشور وی اذربایجان یك کشور ازاد وخود مختاربوده ودر کنفدراسیون مسکوشرکت نخواهد کرد.
محمودوف که به ریاست یك هیات شش رکنی دولتی به پاکستان امده بود ، درختم سفر خویش طی گفتگو باخبرنگاران گفت گورباچوف بخاطر تحکیم اقتدار خویش دریکجا نمودن جمهوریت های کوچك تلاش می نماید.
وی افزود که ما بعد از اعلان ازادی در بر قرار نمودن روابط مستحکم با امت مسلمه تلاش می نمائیم ودراین ضمن پاکستان از اهمیت خاصی برخودار است زیرا پاکستان امروز حیثیت رهبری جهان اسلام را دارد.
محمودوف گفت مردم اذربایجان شدیدا انتظار دارند تا کشور پاکستان اعلان ازادی انها رابرسمیت بشناسد .
محمودوف در مورد روابط خود با مسکو گفت که روابط سیاسی اذربایجان ومسکو به صفر تقرب می کند ولی با وجود ان هم در بعضی موارد تا اکنون روابط سطحی با مسکوبا قیمانده اما حکومت اذربایجان برای تشکیل ارتش دفاعی مستقل خود تلاش می ورزد .
وی مذاکرات خود با مقامات پاکستانی رامفید ودلچسپ قرار داده اظهار امیدواری کرد که نتایجی خوبی برای هردوجانب از ان بدست بیاید

دهیواد په تودومورچلو کی

کندهار :

په کویټه کی دمیډیا نمایندگی رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دقوس په ۱۲ مه دیوه ماین په چوولو سره درژیم دقواو یو جیپ موټر چی دکندهار دنظامی څانگی رئیس اودڅارندوی قوماندان پکی سواره وو دهغوی ددوو تنو محافظینو سره له منځه یوور .

همدارنگه دیوه بل رپوټ له مخی دکندهار ولایت مجاهدینو په همدی نیټه ددرندو وسلو په وسیله دکندهار پر هوایی ډگر برید وکړچی په نتیجه کی ددښمن یوه ډیپو له منځه تللی ، یو شمیر پوستی ویجاړی اویو شمیر عسکر او ملیشه یی وژلی دی .

غور:

دغور ولایت څخه دمیډیا درپوټ له مخی ویل شوی چی دغور ولایت دشهرك په ولسوالی کی درژیم له پرتو ملیشوو څخه ۲۰ تنه دمجاهدینو دعمومی عفوی څخه په استفادی سره تسلیم شوی اویو مقدار وسله او مهمات یی هم له ځان سره راوړی .

رپوټ وایی دغه ملیشه وو دوه میله پی کا ماشینداری یو میل گرینوف یو میل راکټ ۲۰ میله کلاشینکوفونه اویو اندازه مهمات او لوژستیکی مواد له ځان سره راوړی .

هرات :

نمایندگی میدیا در کویته اطلاع می دهد که مجاهدین طی عملیات اسلحه ثقیله بر پوسته های گمرك اسلام قلعه ولایت هرات چند پوسته رژیم را تخریب و تعدادی ازعساکر وملیشه های رژیم را هلاك نموده وعدهٔ رامجبور به فرار نموده اند مجاهدین طی این عملیات ۱۶ میل کلاشینکوف ومقداری ازمهمات نظامی ولوژستیکی رابه غنیمت گرفتند .

جوزجان :

دجوزجان له ولایت څخه میدیا رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دهغه عملیاتو په نتیجه کی چی شبرغان ښارته نژدی دنفت او گازو پر امنیتی پوستو او پوځی مرکزونویی تر سره کړل درژیم ۵ پوستی فتحه ۹ تنه صاحب منصبان عسکر او ملیشه یی ووژل اوڅو تنه نور یی ژوندی ونیول .

مجاهدینو درژیم څلور عرادی پوځی لاری او دبرمی اوه پایی ماشینونه داور لمبه کړل اویوه عراده لاری یو میل سل ډزی ٦ میله کلاشینکوفونه یی دیوی اندازی مهماتو سره ولجه کړل .

«رهنورد زریاب » وظاهر «طنین » به دهلی فرار کردند

کابل ، میدیا :

اطلاعات رسیده از کابل حاکیست اعظم رهنورد زریاب رئیس انجمن نویسند گان رژیم کابل ویکی از اعضای موسس نهضت جدید التشکیل به اصطلاح ازادی ودموکراسی در افغانستان و همچنین ظاهر طنین مدیر مسول هفته نامه «اخبار هفته »هفته نامه به اصطلاح ازاد کابل از کشور فرارکرده اند.

اطلاعات رسیده حاکیست « رهنورد زریاب پس از ائتلاف با اعضای دیگر مؤسس نهضت دموکراسی اخیراً از عضویت در نهضت استعفا داده وهمزمان با ترك افغانستان ورقه استعفایش ازسوی یکی از همکاران مربوطه نهضت مذکور ارایه شده است .

قرار اطلاع وی به هندوستان اولین پناهگاه کمونستان کابل فرار نموده وقرار است از آنجا به اروپا ویا امریکا برود .

همچنان ظاهر طنین یکی دیگراز اعضای حزب وطن کابل که سمت مدیریت مسول هفته نامه اخبار هفته رابعهده داشت وبه اتهام نشر مطالب خلاف مصالح حزب وانتقاد از حکومت از وظیفه سبکدوش گردیده وهفته نامه مذکور مصادره شد از کشور فرار کرده است .

درخبر ذکرنشده که وی به کدام کشور فرار نموده است اما احتمال دارد وی نیز به هندوستان رفته باشد .

فرار دو تن ازاعضای برجسته حزب کمونست کابل به دنبال این شایعات صورت می گیرد که بموجب آن گویا بسیاری از اعضای برجسته حزب در نظر دارند ، بزودی از کشور بگریزند واین امر باعث شده است تا بازار های اسعاری کابل از اسعار خارجی کاملاً خالی گردد.

افغانانو دټول عالم اسلام لپاره قربانی ورکړی

پیښور ، دقوس ۱۸ مه :

دمنځنی آسیا دنوی ازاد شوی جمهوریت اذربایجان دپارلمان اوددفاع دعالی شوراغړی محمودوف اعتبار ویلی دی چی افغانانو یواځی دافغانستان لپاره نه بلکه دټولی اسلامی نړی دسرلوړی لپاره قربانی ورکړی. نوموړی زیاته کړی ۲۱ مه پیړی به دمسلمانانو دکامیابی اوبریالیتوب پیړی وگرځی ، تیره ورځ دکچه گړی په کمپ کی دافغانی مهاجرینو دمخورورکسانو دیوی جرگی سره دخبرو اترو په ترڅ کی محمودوف وویل افغانانو دخپل بی ساری مقاومت اوبی دریغه قربانیو په نتیجه کی دوخت طاغوتی زبرځواك (روس) له شرمیدلی ماتی سره مخامخ کړ.ده زیاته کړه دآذربایجان مسلمانان غواړی چی په افغانستان کی سوچه اسلامی دولت منځ ته راشی اوداځکه چی دافغانستان خلکو هیڅکله هم دپردیو غلامی ته غاړه نه ده ایښی اوانشاالله اوس به هم ډیر زر په افغانستان کی دمسلمانانو په خوښه یو اسلامی دولت منځ ته راشی.محمودوف اعتبار وویل:کمونستانو دآذربایجان په خلکو بی شمیره ظلمونه کړی خوالحمد الله اوس په منځنی اسیا کی دکمونیزم قوت ختم شوی دی.

په بنگله دیش کی دحکومت دمخالف گوند په غوښتنه اعتصاب

ډاکه ، دقوس ۱۸ مه :

دخپریو شویو خبرونو په اساس ویل شوی دی چی تیره ورځ په بنگله دیش کی دحکومت دمخالفو قوتونو په غوښتنه دعمومی اعتصاب په لړ کی داړودوړاوډزو له امله ٥٥ تنه مظاهره چیان سخت ټپیان شول خبر ځای زیاتوی دغه اعتصاب چی عوامی لیگ له خوا اعلان شوی وو هغه وخت دخونړیو نښتو منبع وگرځیده چی دواکمن گوند طرفداران اودعوامی لیگ گوند مظاهره چیان سره مخامخ شول خبر زیاتوی ددواړو خواوو تر منځ یو ساعت سختو ډزو دوام وموند چی پکی لاسی بمونه هم وغورځول شول خو دامنیتی قواو دچټك فعالیت په نتیجه کی په ناآرامیو باندی کنترول راوستل شو .

یوازی په یوه کال کی په ایډز اته سوه میلیونه ډالره مصرف

د۱۹۹۱ میلادی کال په ترڅ کی چی مخ په ختمیدو دی په امریکا کی دایډز په پلیت مرض اخته مریضانو باندی څه دپاسه ۸۰۰ میلیونه ډالره مصرف شوی دی همدارنگه دایډز څخه دساتنی وقایی په برابرولو باندی ۵۰۰ میلیونه ډالره مصرف شوی دی .

په امریکا کی دایډز په هکله تر تحقیقاتو وروسته ځینی محققینو ویلی دی چی په راتلونکی څو کلونو کی به دغه مصارف نور هم زیات شی دبیلگی په توگه د روان ۱۹۹۲ کال په ترڅ کی به دغه مصارف ۹۰۰ میلیون ډالرو ته ورسیږی او په ۱۹۹۳ کال کی به دغه مصارف ۱۵۰۰ میلیونه ډالرو ته ورسیږی .

همدارنگه دیوه بل تحقیقاتی رپوټ له مخی ویل کیږی چی همدا اوس په امریکاکی دسرطان مرض په ناروغانو باندی ۳۸۰۰ میلیونه ډالره مصرف شوی دی .

همدارنگه په نورو خبرونو کی ویل شوی چی په چین کی پدی مردار مرض باندی داخته خلکو شمیر ٦١٥ تنو ته رسیدلی .

دلویدیزو دپوچ فرهنگ ددغه سوغات ایډیز په اثر هر کال په لس هاوو انسانان مری او په سل گونونور ډیر دکړاواوستونځودك ژوند تیروی .

دشوروی دپوځ عمومی قوماندان له دندی څخه گوښه کړای شو

مسکو ، دتاس آژانس :

دشوروی جمهور رئیس میخائیل گورباچوف دهغه هیواد دپوځونو عمومی قوماندان جنرال لوپوف دخپلی دندی څخه گوښه کړی دی ، اودهغه په عوض یی جنرال سیمونوف دپوځ دعمومی قوماندان په حیث ټاکلی دی.

دتاس آژانس دخپاره شوی رپوټ له مخی ویل شوی چی جنرال لوپوف دهغه دصحی وضعی دخرابوالی له امله له دندی څخه گوښه کړای شوی ، خو ځینی باخبره دیپلوماتیکی منابع دغه دلیل غلط بولی او ددی برطرفی اصلی علت یی دشوروی په ځمکنیو قواوو کی داصلاحاتو په سبب راپیدا شوی مشکلات ښودلی .

لویدیزی منابع وایی چی برطرف شوی جنرال دهمدی اونی په ترڅ کی دلندن څخه لیده کاته کول ، او کاملاً روغ او جوړ ښکاریده ، بل لوری ته بی ، بی ، سی راډیو ددی خبر په ترڅ کی ویلی دی چی دشوروی په نظامی قواوو کی ځینی مسلمان پوځیان چی په شوروی کی دفعلی وضعی څخه مطمین ندی ، دیوه بغاوت اوقیام په لټه کی دی .

لویدیزه نړی دمنځنی اسیا له هیوادو سره دمیرنی زامنو په څیر چلند کوی

واشنگټن نوای وقت :

لویدیزه نړی دروسیبی دفدراسیون جمهوریت په نسبت دمنځنی آسیا دمسلمانو جمهوریتونو سره دمیرنی زامنو په څیر رویه کوی ، پداسی حال کی چی دهغوی گاونډی آسیایی هیوادونه هلته دخپلو پښو دټینگولو په لټه کی دی .

دواشنگټن پوسټ اخبار یوه استازی دازبکستان جمهوریت له مرکز ددوشنبی ښار څخه دیوه رپوټ له مخی ویلی دی چی دپاکستان یوی کمپنی دازبکستان په جمهوریت کی په څو مختلفو پروگرامونو کی سرمایه گذاری کړی ده.

پداسی حال کی چی د۱۹۹۰ کال په دوران کی لویدیزو هیوادو په ټول شوروی کی یوازی ۳۰۰ میلیون ډالره پانگه په کار اچولی اوپه ټول شوروی کی د۱۵۰۰ گډو پروگرامونو څخه یی یوازی ۲۵ پروگرامه دمنځنی آسیا هیوادو کی دی ، چی ددوی دغه ډول چلند ته دمیرنی زامنو سره چلند ویل کیږی .

عمومیت استفاده ازمواد مخدره درکابل

کابل ، میدیا :

به اساس گذارش خبرنگار اعزامی میدیا از کابل شیوع مسکرات در میان جوانان با مقامات حکومتی رژیم کابل بحالت خطرناکی رسیده است .

بقول خبرنگار میدیا مشکلات روزافزون اقتصادی ، کشانیدن نو جوانان به خدمت اجباری عسکری وتشویق مقامات رژیم به ترویج مواد نشه اور ده ها هزار تن از شهریان کابل رابه این آفت اجتماعی کشانیده است.

طبق راپور روزانه هزاران جوان ، نو جوانان شاگردان مکاتب وحتیٰ پیر مردان در گوشه وکنار پارك ها دیده میشوند که مصروف دود کردن چرس ، هیروئین ، کوکائین واقسام دیگر اینگونه مواد نشه آور هستند .

همچنان در رستورانت ها هوتل ها وسینما ها روزانه هزاران بوتل از اقسام شراب وسایر نوشابه های سکر آور سر کشیده شده واستفاده ازین گونه مواد در میان طبقه اناث نیز در حال توسعه بوده است.

راپور خبر نگار میدیا حاکیست درمحافل جشن وسرود و عروسی هاکه در هوتل ها وسالون ها برپا می گردد سرکشیدن شراب به امری عادی مبدل شده ودر محافل ودعوت های رسمی که مقامات رژیم درآن شرکت میداشته باشند استفاده از شراب وسایر نوشابه های نشه اور جز رسمیات شده است.

خبرنگار میدیا می گوید در بسیاری از محلات خود شاهد بوده است فروش شراب ، هیروئین کوکائین تریاك، چرس و...بازار گرمی داشته خرید فروش این مواد کاملاً آشکار صورت می گیرد.

اعتذار

درنو لوستونکو !

دجهاد هنداري په تیره (٦٤) گڼه کي دښاغلي سید انور آغا سرمحقق دجهاد هنداري په مرکه کي سهواً مجاهد غږ راډیو ادرئیس په ځاي دلوي مدیر کلمه راغلي ده موږ په دي هکله له محترم سید انور آغا اودرنو لوستونکو څخه معذرت غواړو .

«اداره »

دهیت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاون پیښور
تیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»